د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب پېژندپاڼه

د کتاب نوم : د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

ليکوال: ډاکټر کفايت الله وردګ .

د کمپيوټر چارې: محمد نذير (ذبيح)

د چاپ وار : دوهم

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

فهرست

سرلیک
مخ

اسلام... 1
په ❸ باندې ایمان........................ 3
په ملائکو باندې ایمان..................... 4
په کتابونو باندې ایمان.................. 7
په رسولانو ایمان 8
د قیامت په ورځ ایمان...................... 9
په تقدیر باندې ایمان...................... 10
د اسلام پنځه بناوې......................... 11
د اسلام شپږ کلمې 12
په اسلامي تاریخ کې ځینې مهم ځایونه 14
د کعبې د ننه.................................. 17
کعبه له بهر نه.............................. 19
د کعبې نومونه 21
المسجد النبوي.............................. 23
مسجد اقصی.................................. 30
غار حراء 35
غار ثور 36
دار الارقم 36
جنة المعلاة 38
جبل ا لرحمة 40
مسجد ذی الحلیفة 42

مسجد القبلتين..43
مسجد جمعه 44
مسجد العنبرية 45
مسجد مصلی (مسجد غمامه) 45
مسجد سُقيا 47
مسجد احزاب / فتح 47
مسجد ابي بكر..47
مسجد علی 48
مسجد بني ظفر / مسجد بغل 48
مسجد بني حرام...48
مسجد اُبی 49
مسجد ابي ذر (غفاري) 7................................49
جنة البقيع 50
د قران كريم په اړه معلومات............................51
په دنيا کې اول غر 62
په دنيا کې اول قاتل...................................63
د اول ځل لپاره بسم الله ليکل 65
المصحف 66
په اسلام کې اول شهيده 66
په بيت الله کې د ننه پيدا کېدونکی ماشوم 67
په اسلام کې اول جومات..................................68
اول مسلمانه حضرت خديجه بنت خويلد رضی الله
عنها 69
په ماشومانو کې اول مومن 71
په غلامانو کې اول مسلمان 72
په اسلام کې لمړی خطبه 76
په اسلام کې لمړی خليفه 77
په مدينه منوره کې د رسول الله صلی الله عليه
وسلم لمړی هستوګنځی 77

په اسلام کې لمړی وینه 78
لمړی آس پالنه 79
د غفار د قبیلي نه لمړی مسلمان 81
د انصارو نه لمړی مسلمان 83
د رومیانو نه لمړی مسلمان 83
د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمړی واده 85
د الله په لاره کې لمړی غیشی 88
په اسلام کې اول موذن 88
لمړی په زوره تلاوت کونکی صحابي 89
په اسلام کې اول سفیر 91
لمړی هغه مسلمانه چې یهودي یې وژلی 92
په جنة البقیع کې لمړی دفن شوی مهاجر
صحابي 93
د رومیانو سره د مسلمانانو لمړی جګړه 94
په مدینه منوره کې لمړی نازل شوی سورة .. 98
د فارس نه لمړی مسلمان حضرت سلمان فارسي
.... 99
دمسلمانانو او فارسیانو په مینځ کې لمړی
جګړه 102
د جزیرة العرب نه د یهودیانو شړل 103
په کوفه کې اول دفن کېدونکی صحابي 103
په مسجد نبوي کې شګې اچول 105
په زمکه باندې لمړی ونه 105
په اسلام کې لمړی شاعر 106
لمړی جومات چې مناره ورته جوړه شوه 109
هغه صحابي چې د رسول الله امامت یې هم کړی
دی 112
ذو شهادتین صحابي 116
عمر فاروق ❼ 118

د جُمعې د مانځه لپاره دوهم اذان............125
اندلس ته رسېدونكی لمړی مسلمان امير....128
اول مسلمان پيدا كېدونكی ماشوم..............128
د اسلام نه لمړی مرتد..............................129
د اموي خلافت لمړی خليفه........................130
د عباسي خلافت لمړی خليفه.....................134
په اسلام كې لمړی مشهوره توره.................137
د حضرت خبيب بن عدي شهادت.....................137
عربو ته د بتانو د عبادت لمړی ځل راتلل
142..

اسلام

اسماني مقدس دين دی چې الله ﷻ خلکو ته د لار ښوونې لپاره رالېږلی دی او اسلام په لغت کې د سلامتیا څخه اخستل شوی دی او یا له تسلیم څخه اخستل شوې دی پدې معنی چې څوک مسلمان وي نو هغه به په سلامتیا کې وي او یا به د ژوند په ټولو برخو کې د الله ﷻ حکمونو او امرونو ته تسلیم وي ، اسلام هغه دین دی چې په ده سره ټول پخواني دینونه مسخ شول او د رسول الله ﷺ په راتلو سره نوره د پیغمبرانو د راتلو لړی پای ته ورسېده او دا اسلام دین دی چې الله ﷻ د ټول عالم لپاره د انسانانو او پیریانو لپاره را ولېږلو د اسلام مقدس دین خپلو پیروانو ته د الله ﷻ په وجود او وحدانیت، د ټولو انبیاوو هغه چې په قران کریم کې یې ذکر راغلی دی او کنه په رسالت او حقانیت د څلورو اسماني کتابونو(تورات، انجیل، زبور، قران کریم) او صحیفو په نزول ، په ملائکو او د قیامت په ورځ باندې د ایمان راوړلو حکم کوي د اسلام د دین د ټولو قوانینولمړی بنیاد زمکې ته په را لېږل شویو کتابونو کې وروستنی کتاب قران کریم او دوهم بنیاد یې د

رسول الله ﷺ مبارک احادیث دي او بیا ورپسې د پوره تفصیل لپاره علم فقه ده .

په دنیا کې تر ټولو وړاندې ملک اندونیسیا دی چې تر ټولو نه زیات مسلمانان لري او د ټولې نړۍ د مسلمانانو دیارلس په سلو کې مسلمانان همدلته دي پاتې ۲۵ % مسلمانان په جنوبي آسیا (افغانستان، ایران، پاکستان، بنګله دیش، بوتان، سریلانکا، نیپال، ملدیف، هند) کې ، ۲۰% په شرق اوسط (بحرین، کویت، عمان، قطر، ترکیه، سعودي، امارات، یمن، فلسطین، عراق، اسرائیل، اردن، لبنان، سوریه، مصر) کې 22% په مینځنی آسیا کې ، ٤% په سلو کې په نوره آسیا کې 15% په ټوله افریقا کې او پاتې په نوره دنیا کې لکه چین او داسې نورو ساحو کې خپاره دي چې هلته ورته د نور نفوس په نسبت د اقلیتونو په نظر کتل کیږي په اوسني عصر کې په نړۍ کې د مسلمانانو شمېره ویل کیږي چې 1.75 ملیارده ده چې د دنیاد ټول نفوس 23% برخه تشکیلوي او همدارنګه د مسلمانانو لویه شمېره په امریکا او آروپایي ملکونو کې خپره شوېده چې د نورو ملکونو څخه د مهاجرینو په دول

هلته تللي دي او بيا هماغلته ميشته شوي دي او په اوسني وخت کې اګر چې ويل کيږي چې د عيسايانو شمېره په دنيا کې له مسلمانانو څخه زياته ده خو په ټولو دينونو کې زيات خپرېدونکى دين بيا هم اسلام دى .

د اسلام بنيادي عقائد .

په ❸ باندې ايمان

د اسلام د عقائدو شروع او بنياد ددېنه کيږي چې د الله ﷻ په ذات باندې ايمان راوړل شي او پدې باندې ايمان راوړل شي چې الله ﷻ هغه ذات دى چې همېشه به وي، مرګ نه لري، غفلت نه لري ، خوب نه کوي، شريک نه لري، نه له چا څخه پيدا شوى ، نه ورڅخه څوک پيدا شوي دي ، د هيچا پروا نه لري، د کوم کار په کولو کې د پوره اختيار مالک دى، نه ورته مثال شته ، نه يې رقيب شته ، ټول مخلوقات هم ده پيدا کړي دي او مختيار کل دى ، د دنيا ټول بادشاهان دده رحم ته محتاج دي، نه له چا سره ظلم کوي او نه پر چا باندې تېرى ، د ټولو مخلوقاتو سره يو شان انصاف او عدالت لري هرڅه ويني او په هرڅه

باندي پوهیږي ، لا زوال مالک دی ، د بې ساري قدرتونو مالک دی ، له هرڅه نه خبر دی ، دده له علم څخه هېڅ کار پټ نشي پاتې کېدلی ، نه يې شپه د علم مخه نیسي او نه تر غرونو څه ترې پناه کېدلی شي ، ټول جهان فاني کېدونکی دی او الله ﷻ فنا نه لري، نه جسم لري، نه شکل لري او نه يې انسانان تصور کولی شي ، نه ماده دی او نه له مادیاتو نه جوړ شوی دی ازلي او ابدي مالک دی، نه څه خوراک او څښاک کوي او نه پکې نور بشري صفات شته .

او ددې ذات لپاره الله اسم ذات دی او په قران کریم کې يې ۹۹ نومونه راغلي دي چې اسماء الحسنی ورته ویل کیږي .

په ملائکو باندې ایمان

په ملائکو باندې ایمان هم د اسلام د بنیادي ټکو څخه یو دی ملائکې د الله ﷻ مخلوق دی وظیفه يې د الله ﷻ تقدیس او تسبیح او عبادت دی نه څه خوري او نه څه څکي او نه لکه د انسانانو په څیر نسلونه لري او نه پدې ډول سره زیاتیږي او صرف هغه کارونه کوي چې د کومو ورته امر شوی وي او د عالم په

نظام کې مختلف کارونه ددوی په غاړه وي لکه را لېږل شویو پیغمبرانو ته وحی راوړل (تر هغه وخته پورې چې پیغمبران را لېږل کېدل) د الله ﷻ بې شانه عرش پورته کول ، د الله ﷻ پاکي بیانول ، د انسانانو نیک او بد عملونه لیکل او درج کول ، د وفات په وخت د انسان څخه روح اخستل ..

ملائکې الله ﷻ په خپل قدرت له نور څخه پیدا کړي دي لکه پېریان یې چې له اور او انسانان یې له خاورې نه پیدا کړي دي او ملائک وزرونه لري چې د ضرورت په وخت کې پرې منزل کوي او د ملائکو وزرونه مثنیٰ، و ثلاث، ورباع (دوه دوه، دری دری، څلورڅلور) وي او ددېنه زیات هم وي لکه په یو حدیث کې دي چې د معراج په شپه باندې رسول الله ﷺ حضرت جبرئیل ولیدو چې دهغې شپږ سوه وزرونه وو په مخلوقاتو کې ملائکې د انسانانو څخه پټې دي هغه له نور نه پیدا کړلې شوې دي او د انسانانو په سترګو کې الله ﷻ هغه طاقت نه دی ایښی چې کومې هغه نور ولیدلی شي او ځینې حیوانات یې وینې لکه رسول الله ﷺ چې فرمایي چې کله تاسې د چرګ اذان واورېدو نو د الله ﷻ نه د هغه د فضل

غوښتنه وکوئ (دعا وکوئ) څکه ده ملائکې ولیدې

په قران کریم کې د یوځو ملائکو ذکر راغلی دی .

جبرائیل او میکائیل په سورة بقره کې .

من کان عدواً لله و ملائکته و رسله و جبریل و میکال فان الله عدو للکافرین .

هاروت او ماروت هم په همدې سورت کې ذکر کړل شوي دي .

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَي مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ بِلَ بـ با الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ هَارُوتَ وَمَارُوتَ...

ملک الموت چې بل نوم (عزرائیل) ورته په قران کې نه دی یاد کړل شوی د هغه یاد په سورت سجده کې راغلی دی .

قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ

نورې څه داسې ملائکې دي چې نوم یې په قران کریم کې نشته خو ورته اشاره شوېده لکه اسرافیل چې په شپیلی کې به پوکې ورکوي چې قیامت شي او بیا خلک را پورته شي ، رضوان د جنت د دروازې ساتونکی ، الزبانیة دا نولس ملائکې دي چې د دوزخ د ساتنې او د هغې

د اهل د عذاب کارونه یې په غاړه دي
حملة العرش هغه ملائکې دي چې د الله ﷻ
عرش یې پورته کړی دی حفظة هغه ملائکې
دي چې د انسان حفاظت ورته سپارل شوی
دی او د انسان ساتنه کوي . کرام
کاتبین هغه ملائکې دي چې د بندګانو د
عملونو ښو او بدو لیکنه کوي

په کتابونو باندې ایمان

په اسماني کتابونو باندې ایمان راوړل
هم د اسلام له ارکانو څیني دي چې
تورات، انجیل ، زبور، او قران کریم
دي چې د حضرت جبرائیل ؑ په واسطه
باندې په رسول الله ﷺ باندې په وخت وخت
سره په ۲۳ کلونو کې نازل شوی دی او د
رسول الله ﷺ مبارکو صحابه وو یې په جمع
کولو کې مرسته کړیده سره ددې چې د
رسول الله ﷺ په زمانه کې د کتاب په شکل
کې نه وو بیا د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه
په زمانه کې ورته د کتاب شکل ورکړل
شو او بیا د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه
کې ډیر کړل شو او د مسلمانانو مختلفو
ښارونو ته واستول شو او قران هغه
کتاب دی چې له اول نه تر اوسه پورې
یې ساتنه او حفاظت الله ﷻ په خپله ذمه
اخستی دی او له اولې نسخې نه تر اوسه

پرې چا بدل نشو کړلی په قران کریم کې ۱۱٤ سورتونه دي او ځینې آیاتونه یکې مکي دي هغه چې تر هجرت وړاندې نازل شوي دي چې اکثر پکې د عقیدې، ایمان، د نفس او روح د تزکیې موضوع ګانې پکې ځېړل شوې دي او مدني آیتونه هغه دي چې تر هجرت نه وروسته نازل شوي وي په هغې کې اکثر د شریعت د احکامو او د اجتماعي ژوند کولو او د اداره کولو په اړه هدایات شوي دي او همدا کتاب قران کریم د اسلام د ټولو احکامو لپاره لمړی بنیاد دی .

په رسولانو ایمان

د اسلام له مخې رسولان هغه بندګان دي چې ﷲ ➢ ددې لپاره غوره کړي دي چې خلکو ته د ﷲ دین ورسوي دوی انسانان وو خو ❷ ورته د معجزو د ښکاره کولو قدرت ورکړی وو ترڅو خلکو ته ثابته کړي چې دی د ﷲ نبي او رسول دی لکه د سلیمان ⌛ معجزه چې د مارغانو په ژبه خبرې کول او دهغوی په ژبه پوهېدل او د پېریانو لیدل وو، او د حضرت عیسی ⌛معجزه د بیمارانو جوړول او د مړیو را ژوندي کول وو ، او د رسول ﷲ ♈ د ډېرو معجزاتو نه یوه تر اوسه پورې

ژوندی معجزه قران کریم دی او دې
ټولو انبیاوو به د الله ﷻ وحدانیت او
دهغه د حکمونو منلو ته خلک رابلل او
له ګناهونو او شرک څخه به یې خلک منع
کول او ددې رسالت لړی په رسول الله ﷺ
باندې پای ته ورسېده چې ددې وروسته
بل نبي نه راځي او لکه څرنګه چې په
اسلام کې په خپل نبي حضرت محمد ﷺ
باندې ایمان راوړل ضروري دي په همدې
ډول په ټولو پیغمبرانو باندې ایمان
راوړل او دهغه له هرقسم ګناه نه پاک
ګڼل هم د اسلام له رکنونو څخه دي .

د قیامت په ورځ ایمان

د قیامت ورځ ته په اسلام کې دحساب
ورځ هم ویل کیږي د قیامت ورځ ورته
پدې وایي چې پدې ورځ به ټول مړي قیام
کوي (راپورته کیږي به) د حساب ورځ
ورته ددې امله وایي چې پدې ورځ به د
ټولو انسانانو سره حساب کیږي پدې
ورځ به الله ﷻ ټول انسان را ټول کړي د
حساب لپاره او د ټولو سره به حساب
وشي د نیکو عملونو لرونکو ته به د
هغوی د نېک عمل اجر ورکړل شي او د
بدو عملونو لرونکو ته به دهغوی د بد
عمل سزا ورکړل شي نو ځکه به ددې

میدان څخه خلک جنت ته ځي چې د نعمتونو ځای دی او یا به دوزخ ته ځي چې د اورونو او عذابونو ځای دی او د قیامت ورځ به څه وخت راځي؟ ددې چاته معلومات نشته په احادیثو کې ددې لپاره علامې ښودل شوي دي او معین وخت یې معلوم نه دی .

په تقدیر باندې ایمان

پدې باندې عقیده کول چې د هرڅه فیصله الله ﷻ کوي او همغه څه به کیږي چې څه مقدره وي دا عقیده هم د اسلام له ارکانو څینې ده او تول مسلمانان په همدې عقیده لري چې که خیر کیږي او که شر واقع کیږي دا د الله ﷻ له لوري نه تاکل شوي او مقدر شوي وي او په اسلام کې پدې شیانو باندې د ایمان راوړلو بنیاد د حضرت عمر ❼ مبارک حدیث دی چې هغه فرمایي مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې یو سړی په پاکو سپینو جامو کې را ننوت او په ده باندې د سفر هیڅ ډول آثار نه وو د رسول الله ﷺ نه یې پوښتنه وکوله چې ایمان څه شی دی؟ رسول الله ﷺ ورته ویل ایمان دادی چې ته په الله، په ملائکو، د الله په کتابونو، د الله

په پیغمبرانوء او د قیامت په ورځ او په تقدیر باندې ایمان راوړې هغه کس ورته وویل چې رښتیا دې ویل او بیا (د څه نورو پوښتنو څخه وروسته) چې کله لاړو نو رسول الله صلی له مونږ نه پوښتنه وکوله چې دا څوک وو؟ مونږ ورته وویل چې الله او د هغه رسول وربانديې ښه خبر دي (مونږ و نه پېژندو) بیا رسو الله وویل چې دا جبرائیل وو تاسې ته یې ستاسې دین در ښودو .

د اسلام پنځه بناوې

پنځه شیان دي چې هر مسلمان په هغه باندې ایمان لري او په هغو باندې عمل کوي او هغه د حضرت عمر ❼ په حدیث کې راغلي دي هغه فرمایي چې ما د رسول الله ☸ څخه واوریدل چې هغه ویل : بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لا اله الاالله و ان محمد رسول الله و اقام الصلاة و ایتاء الزکاة و الحج و صوم رمضان .

حضرت عمر ❼ وایي چې ما د رسول الله ☸ نه واوریدل چې هغه مبارک فرمایل چې اسلام پر پنځو شیانو باندې جوړ دی

ددې گواهي ورکول چې الله یو دی او محمد د هغه رسول دی

مونځ کول

زكات وركول

حج كول

د رمضان روژې نيول

د اسلام شپږ كلمې

اوله كلمه طيبه :

لآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدُ رَّسُوْلُ الله

دوهمه كلمه شهادت

اشْهَدُ انْ لّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَه لَا شَرِيْكَ لَه، وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدً اعَبْدُه وَرَسُولُه .

دريمه كلمه تمجيد

سُبْحَان اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّهِ وَ لآ اِلٰهَ اِلّا اللهُ ، وَ اللهُ اَكْبَرُ وَلا حَوْلَ وَلاَ قُوَّة ِ اِلَّا بِاللّهِ الْعَلِىّ الْعَظِيْم

شلورمه کلمه توحید

لا الهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَ يُمِيْتُ وَ هُوَحَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ذُو الْجَلَالِ وَ الْاِكْرَامِ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلى كُلِّ شَىءٍ قَدِيْرٌ .

پنځمه کلمه استغفار

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّىْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُه عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنْ الذَّنْبِ الَّذِىْ اَعْلَمُ وَ مِنْ الذَّنْبِ الَّذِىْ لا اَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُبِ وَ سَتَّارُ الْعُيُوْبِ و غَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَ لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِىِّ الْعَظِيْمِ .

شپږمه کلمه رد کفر

اَللّٰهُمَ اِنِّىْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ انْ اُشْرِكَ بِكَ شَيئًا وَاَنَا اَعْلَمُ بِه وَ اسْتَغْفِرُكَ لِمَا لا اَعْلَمُ بِه تُبْتُ عَنْهُ وَ تَبَرَّاْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَ الشِّرْكِ وَ الْكِذْبِ وَ الْغِيْبَةِ وَ الْبِدْعَةِ وَ النَّمِيْمَةِ وَ الْفَوَاحِشِ وَ الْبُهْتَانِ وَ الْمَعَاصِىْ كُلِّهَا وَ اَسْلَمْتُ وَ اَقُوْلُ لَآ اِلهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدُ رَّسُوْلُ اللّٰه

په اسلامي تاريخ کې ځينې مهم ځايونه

بيت الله



په زمکه باندې اباده شوې مقدسه کوټه ده چې د مسجد حرام په مينځ کې ده د مسلمانانو قبله ده د دنيا د هر لورې نه مسلمانان په عبادت او مانځه کې مخ د همدې لورې ته اړوي او دېته بيت الحرام هم وايي ځکه الله ﷻ دلته جنګ او لانجې کول حرام کړي دي او د اسلام

له نګاه نه په ټوله زمکه کې تر ټولو مقدس او غوره ځای همدا دی ځکه همدا کوټه وه چې الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ته امر وکړو چې کوټه جوړه کړه او حضر ابراهیم ﷺ د کوټې په جوړولو پیل وکړو او حضر اسمعیل ﷺ ورسره مرسته کوله او کله چې کوټه پوره شوه نو الله ﷻ حضرت ابراهیم ﷺ ته وفرمایل : و اذن فی الناس بالحج یاتوک رجالا و علی کل .... سورة حج آیة ۲۷

ددې آیت په تفسیر کې امام ابن کثیر رحمه الله فرمایي چې الله ﷻحضرت ا براهیم ﷺته وویل چې په خلکو کې اعلان وکوه چې ټول خلک دې ددې بیت الله چې مونږ یې تاته د جوړولو امر وکړو او تا جوړه کړه حج ته راشي نو حضرت ابراهیم ﷺ ورته وویل چې زه خو به اواز وکوم نو زما اواز به ټولو خلکو ته څنګه رسیږي؟ الله ﷻ ورته وویل چې ته اواز وکوه او رسول به یې زه وکوم .

نو حضرت ابراهیم ﷺ د یو قول له مخې په مقام ابراهیم کې و دریږد، د یو قول له مخې چې په حجر اسود باندې، یا په صفا باندې ، او د یو قول له مخې د ابي قبیس غره په سر باندې و دریږد او

اواز یې وکړو : ای خلکو ستاسي لپاره ستاسي رب په زمکه کې کوټه جوړه کړه حج ته یې راشئ دا اواز الله ﷻ ټولو مخلوقاتو ته ورسولو او د انسانانو ټولو ارواحو ته ورسېدو او د چا چې په حج کې قسمت شوی دی هغوی په هغه وخت کې ورته وویل چې لبیک اللهم لبیک ...
همدا مضمون د حضرت ابن عباسؓ حضرت عکرمه رضی الله عنهم څخه هم را نقل شوی دی.

د کعبې مبارکې جوړښت داسې دی چې په مربع ډول سره جوړه کړل شوې کوټه ده لوړ والی یې ۱۵ متره دی او د مستطیل په شکل جوړه ده په کوم لوري کې چې دروازه ده ددې اندازه دولس ۱۲ متره ده او په کوم لوري کې چې میزاب الرحمة (ناوه) ده دهغه طرف اندازه لس متره ده او د حضرت ابراهیم ؑ په زمانه کې داسې نه (۹) وه بلکه لوړ والی یې نه شرعي ګزه وه او چت وربانديې نه وو بیا وروسته وربانديې چت جوړ شو او په هغه وخت کې دروازه په زمکه پورې لګېدلې وه لوړه نه وه چې کله د عبد المطلب زمانه شوه هغه وربانديې چت جوړکړو او د وسپنې دروازه یې ورته کېښوده او په هغې بانديې بیا سره زر وخېږول او دا لمړی ځل وو

چې سره زر د مکې مکرمې په دروازه کې استعمال کړل شوي اوس د مکې مکرمې دروازه له زمکې نه لوړه ده او همدا یوه دروازه لري او په کال کر دری ځله د وینځلو لپاره خلاصیږي د کعبې د ننه خالي کوټه ده او دری پایې پکې ولاړي دي .

د کعبې د ننه

اول : د کعبې دننه د مسکو او عنبرو بوی لګیږي او هر وخت دلته دا بوی ددي امله موجودي وي چې کله یې وینځي بیا وربانديې قیمتي عطر ، مسک او عنبر لګوي

۲. د کعبې معظمې د ننه ټوله په قیمتي مر مر باندې پوښل شوې ده غولی سپین او دیوالونه یې ګلابي رنګه مر مر دي .


۳. په مینځ کې یې دری د لرګي رنګه پایې ولاړي دي چې چت یې نیولی دی او په ډېر مهارت سره پدې باندې نقشونه شوي دي او سره زر پکې کارول شوي دي .

٤. څراغونه پکې ځوړند دي چې په عهد عثماني کې د سرو او سپينو زرو او شیشو نه جوړ کړل شوي دي او قراني آیتونه وربانديې لیکل شوي دي .

٥. د ننه پکې يوه زينه ده چې تر چت پورې رسيږي د قيمتو موادو نه په مهارت سره جوړه ده .

٦. دکعبې د ننه په کال کې يو ځل په قيمتي صابون باندې وينځل کيږي او دهغې نه وروسته قيمتي عطر او ښه بويونه وربانديې لګول کيږي چې دا بوی پکې تر پوره کال پورې پاتې وي .

کعبه له بهر نه



د مکې مکرمې په بهرنۍ ساحه کې محترم ځایونه:

۱. حجر اسود په جنوب شرقي کونج کې ده.

۲. د مکمې مکرمې دروازه له زمکې نه 2.13 متره لوړه ده او په شرقي دیوال کې ده.

۳. میزاب (ناوه) دا په شمالي دیوال کې ده د کعبې د سر نه د باران اوبه په همدې لاره وزي .

٤. شاذر وان (د کعبې په دېوال پورې لګېدلې شکتنۍ برخه) دا هم د کعبې برخه ده .

٥. حطیم

٦. ملتزم

٧. مقام ابراهیم

٨. د حجر اسود کونج

٩. رکن یماني

١٠. رکن شامي

١١. رکن عراقي .

١٢. د کعبې پوښ .

١٣. د حجر اسود نه تېره شوې کرښه چې د طواف د شروع کېدلو ځای ښکاره کوي .

د کعبې نومونه

کعبه : کعبه ورته ددې امله وايي چې دا په مکعب شکل کې ده او يا کعب پورته کېدلو ته وايي او دا هم له زمکې نه را پورته شوېده او د کعبې معظمې لپاره لاندې نومونه په قران کريم کې ذکر کړل شوي دي .

الکعبة : سورة مائده آيت ٢٥ الله ﷻ فرمايي :

يَـاأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَقْتُلُواْ ٱلصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّداً فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْياً بَالِغَ ٱلْكَعْبَةِ أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَو عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَاماً لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَف وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ ٱللَّهُ مِنْهُ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ ذُو ٱنْتِقَامٍ.

البيت: په سورت بقرة آيت ١٢٥ کې :

وَإِذْ جَعَلْنَا ٱلْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْناً وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَآ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَٱلْعَاكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ.

البيت العتيق: په سورت حج آية ٢٩ کې

ثُمَّ لْيَقْضُواْ تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُواْ نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُواْ بِٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ

المسجد الحرام : په سورت مائده آيه دوهم كي .

يَا أَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُحِلُّواْ شَعَآئِرَ ٱللَّهِ وَلاَ ٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَلاَ ٱلْهَدْىَ وَلاَ ٱلْقَلاۤئِدَ وَلاۤ آمِّينَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَاناً وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَٱصْطَادُواْ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ أَن تَعْتَدُواْ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلْبرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلإِثْمِ وَٱلْعُدْوَانِ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ.

البيت المحرم : په سورت ابراهيم آية ٣٧ كي.

رَّبَّنَآ إِنِّيۤ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلاَةَ فَٱجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِيۤ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُمْ مِّنَ ٱلثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ.



المسجد النبوي



د رسول الله ﷺ نازولی جومات دی چې رسول اکرم ﷺ ته یې تر شنه ګنبد لاندې په خپله غېږه کې ځای ورکړی دی په اسلام کې د مسجد حرم نه وروسته لوړه مرتبه لري په ښکلي او همېشه بهار ښار چې د سعودي په غربي سیمه کې واقع دی موقعیت لري نوم او موقعیت یې په دنیا کې له چا نه هم پټ نه دی یو مونځ پکې په بل ځای کې د زرو مونځونو څخه غوره دی بغیر د مسجد حرام نه ، په سعودي کې همدا جومات اول هغه ځای

دي چې برقي څراغونه پکې لګول شوي دي . کله چې د هجرت په لمړي کال باندې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته راغلو دا ځای هغه ځای وو چې د مدینې منورې مینځ وو او د رسول الله ﷺ اوښه همدلته و درېده نو رسول الله ﷺ دا زمکه د هغه چا نه واخسته چې د چا وه او دلته یې جومات جوړ کړو چې مسلمانان به پکې را ټولېدل او دلته به یې دین زده کولو او عبادت به یې کولو په هغه وخت کې یې اوږده اویا شرعي ګزه او ساره یې شپېته ګزه وو یعنې تقریباق اوږده یې ۳۵ او ساره یې ۳۰ ګزه وو رسول الله ﷺ یې پخپله په تعمیر کې د کانو د پورته کولو او ختې د جوړولو کار کړی دی د یو څه وخت تېرېدلو وروسته د مسلمانانو شمېره مخ پر زیاتېدو وه دا هغه وخت وو چې د خیبر فتح وشوه نو رسول الله ﷺ د جومات د لویولو حکم و فرمایلو نو جومات په عرض او طول کې فراخ کړل شو په اوم کال د هجرت څلوېښت شرعي ګزه په عرض او دېرش ګزه په طول کې ور زیات کړل شول پدې زیادت سره جومات سل په سلو کې مربع شکل جوړکړل شو او دا نوې زمکه د حضرت عثمان رضي الله عنه په واسطه ورته واخستل شوه .

د حضرت ابو بکر صدیق ❼ چې کله د خلافت دور شو نو په هغه وخت کې هغه مسئلې هم ډېرې وې چې د رسول الله ☸ د وفات نه را پیدا شوې وې نو ددې امله هغه ددې وخت پیدا نه کړو چې جومات فراخه او یا ترمیم کړي نو ځکه دده ❼ په دور کې په هماغه زاړه حال باندې پاتې شو چې کله د حضرت عمر ❼ دوره شوه نو فتوحات زیات شول او اسلام ترقي وکوله نو یو ځل بیا مسجد نبوي د مسلمانانو لپاره وړوکی شو نو حضرت عمر ❼ پکې د هجرت په اولسم کال زیادت راوستلو او فراخ یې کړو د قبلې لوري ته یې لس گزه، غرب لوري ته یې شل گزه ، او شمال لوري ته یې دېرش گزه اوږد کړو چې ددې سره د جمات اوږده ۱٤۰ او ساره یې ۱۲۰ گزه شول او ابادي یې په هغه ډول وکوله چې رسول الله ☸ کړې وه

د حضرت عثمان ❼ په زمانه کې په ۲۹ هجري کال کې جومات نور هم فراخ کړل شو او په تعمیر باندې یې هم زیات مصرف وشو او د قیمتي موادو نه جوړ کړل شو د قبلې ، شمال او غرب طرفونو ته جومات فراخ کړل شو د قبلې لوري ته لس گزه، د شمال لوري ته شل گزه، او د غرب لوري ته هم شل گزه فراخ کړل شو

او د شرق لوري ته فراخ نه کړل شو ځکه چې دلته د امهات المومنین هستوګنځي وو خو د جومات ټول مساحت اوس په اوږدو کې ۱۷۰ او په سارو کې ۱۳۰ جوړ شو چې دا ټول ٤۹٦ مربع متره شو او د جومات د ازادولو او فراخ کولو کار په ۳۰ هجري کال کې پای ته ورسېدو او ده مبارک ❼ پخپله په کار کې شرکت کولو په نقشونو باندې ښائسته کړل شوې تیرې یې پکې ولګولې او نور یې د هغه وخت سره سم چې څومره ممکن وو ښائسته کړو او دروازې یې لکه د مخکې داسې پاتې شوې شپږ دروازې یې وې دوه له شمال لوري نه ، دوه د غرب له لوري او دوه د شرقي لوري نه او په همدې تعمیر باندې جومات د امویانو تر دور پورې پاتې شو کله چې ولید بن عبدالملک واکمن وو په کال ۸۸ هجري کې یې په مدینه باندې مقرر شو والي عمر بن عبد العزیز ته ولیکل چې د مسجد نبوي په شاوخوا کې موجود کورونه دې دهغې له مالکانو څخه واخلي او مسجد نبوي دې وربانډې فراخ کړي او پدې فراخي سره بیا د امهات المومنین حجرې او هستوګنځي د جومات مینځ ته شول او د جومات احاطه تر هغه څخه هم ور تېره شوه او جومات یې د شرقي ، غربي او شمالي طرف نه فراخ کړو پدې سره د

جومات تولـه ساحه ۲۳٦۹ مربع متره شوه او په هر کونج کې يې ورته مناره جوړه کړه او د لمړي ځل لپاره يې محراب ورته جوړکړو چې مينځ يې خالي وو بيا تر ۱٦۰ هجري پورې د جومات د فراخي کار ونه شو په ۱٦۰ هجري کې چې کله مهدي د مدينې منورې زيارت وکړو هغه د مدينې والي جعفر ابن سليمان ته حکم وکړو چې جومات فراخ کړي هغه صرف د شمالي لوري نه پکې زيادت راوستلو او د نقش او ښائست کار يې پکې زيات وکولو او په پنځو کلونو کې يې دا کار مکمل کړو او تقريباً ۲٤٥ مربع متره ساحه يې په جومات کې زياته کړه .

په ٦٥٤ هجري کال کې مسجد نبوي وسوزيدو د بيا ترميم او جوړولو کار يې عباسي خليفه معتصم با لله شروع کړو خو په هغه وخت کې د تتاريانو د جنګ او په بغداد باندې دهغوی د ولکې کولو او د عباسي خليفه د وژلو له امله د جومات کار نيمګړی پاتې شو بيا په هغه وخت کې د مصر او يمن حاکمانو ددې پروګرام سر ته رسول په غاړه واخستل .

په ۸۸٦ هجري کال کې د روژې په مياشت کې جومات بيا و سوزېدو او ډېر نقصان ورته ورسېدو بيا يې د رغونې کار اشرف قايتبای په غاړه واخستو هغه پکې

نوره فراخي هم راوستله او ترمیم یې هم کړو او په ۸۹۰ هجري کې یې کار ختم شو .

تر ډېره وخته بیا ترمیم او جوړښت کېدو خو بیا په ۱۳۷۰ هجري کې د بیا آبادولو کار شروع کړل شو او په ۱۳۷۵ کې ختم کړل شو چې بیا د جومات مساحت ټول ۱٦۳۲۷ مربع متره شو او دا ډېر فراخ وو دا ټول کار د ملک سعود بن عبدالعزیز په دوره کې وشو چې د سعودي بنیاد ایښودونکی دی .

لږ وخت وروسته دا جومات هم د مونځ کونکو په مخ تنګ شو بیا فیصل بن عبد العزیز د شمال لور ته کورونه ختم کړل او جومات یې نور هم فراخ کړو او اوس د جومات مساحت ۳۰٤۰٦ ته ورسېدو او نور یې هم تر خپل وس پوري ښکلی کړو او پوره مصارف یې وربانديږ وکول .

بیا په ۱٤۰۵ کال په صفر کې ملک فهد بن عبدالعزیز په تاریخ کې د بې ساري فراخي د تهداب کانی کېښودو او په همدې کال کې یې په کار باندې لاس پوري کړل شو جومات نوی شو او دومره فراخ کړل شو چې ټول مساحت یې ۹۸۵۰۰ مربع متر ته ورسېدو کومه ښکلا چې ورکړل شوې او کوم مصارف چې وربانديږ شوي دي او چې کوم نوي سهولتونه پکې

جوړ کړل شوي هغه د هيڅ ليدونکې د
سترګو نه پټ نه دي الله يې دې مونږ
ته بيا بيا د ليدلو نعمت راکړي .

مسجد اقصی



د مسلمانانو لمړی قبله تاریخي جومات د فلسطین د بیت المقدس ښار په جنوب شرق لوري کې واقع دی جومات له اول نه ښه فراخ جوړ شوی دی ۱٤٤۰۰۰ متره مربع ساحه یې نیولې ده او ددې جومات لپاره همدا نوم په قران کریم کې راغلی دی چې الله ﷻ فرمایي :

سُبْحَانَ ٱلَّذِى أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَىٰ ٱلْمَسْجِدِ ٱلأَقْصَى ٱلَّذِى بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَآ إِنَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلبَصِيرُ.

دا يو په هغه دريو جوماتونو کې دی چې رسول الله اکرم ﷺ په يو حديث کې فرمايلي دي : لا تشد الرحال الا الى ثلاثة مساجد المسجد الحرام و مسجدي هذا (المسجد النبوي) و المسجد الاقصى او ددې په اړه حضرت ابوذر غفاري ❼ فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه و پوښتل چې په دنيا کې تر ټولو نه وړاندې کوم جومات جوړشوی دی هغه ﷺ راته وويل مسجد حرام بيا ما ورته وويل چې بيا کوم ؟ هغه ﷺ راته وويل چې مسجد اقصى ما ورته وويل چې ددوی دواړو په مينځ کې څومره زمانه وه هغه ﷺ راته وويل څلويښت بيا يې راته وويل چېرته چې د مانځه وخت در باندې راغلو ويې کوه ځکه بهتري په همدې کې ده .

او د مسجد اقصى د اسلام په تاريخ کې ډېر زيات قدر او عزت دی د ټولو پيغمبرانو قبله ده د اسلام د شروع قبله هم ده او د معراج په شپه رسول الله ﷺ په همدې جومات کې د ټولو انبياوو امامت وکولو

د مسجد اقصى تعمير

مسجد اقصى په شپږو لويو برخو ويشل شوی دی .

المسجد القِبلي : دا د جومات جنوبي برخه ده چې د قبلې لوري ته ده ددې املـه ورتـه قبلي طرف وايي او په مسجد اقصى کې د سړيو لپاره د مانځه دا لوی ځای دی او په همدې برخه کې امام دريږي او د جومات دا برخه په هغه ځای باندې جوړه شوېده چېرته چې حضرت عمر ❼ مونځ کړی وو چې کله يې بيت المقدس فتح کړی وو په ۱۵ هجري کال کې .

المصلى المرواني : د جومات دا برخه ژوره ده او د جومات په جنوب شرقي لوري کې ده .

الاقصى القديم : اقصى قديم تر مسجد قبلي نه لاندې جوړ شوی دی او امويانو ددې لپاره جوړ کړی وو چې د اموي خلافت د مشرانو لپاره د امويانو د بنګلو څخه د ورتللو لاره شي .

مسجد براق : يو ديوال دی د براق په نوم د جومات دا برخه هغه ديوال ته څېرمه ده .

مسجد المغاربة :

مسجد النساء: د زنانه وو د مانځه لپاره خاصه کړل شوې برخه ده .

څلور لويې منارې لري په عربي کې ورته ماذنه وايي :

ماذنة باب المغاربة

ماذنة باب السلسلة

ماذنة باب الاسباط

ماذنة باب الغوانمة

او څوارلس کمبدې لري (قبة) .

قبة الصخرة : دا په آتو ضلعو باندې مشتمله ابادي ده چې په سر باندې يې طلايي کمبد جوړه شوېده او په جومات کې لکه د زړه داسې حيثيت لري په مينځ کې ده يو څه چپ طرف ته .

قبة النحويه

قبة الارواح

قبة السلسلة

قبة سليمان

قبة خضر

قبة المعراج

قبة الميزان

قبة يوسف آغا

قبة موسى

قبة النبي

قبة يوسف

قبة عشاق النبي

قبة الشيخ خليلي

د مسجد اقصى پنځلس دروازې دي په هغوی کې لس خلاصې او پنځه يې اوس بندې دي او هره دروازه يې خپل نوم لري په لاندې ډول .

باب الاسباط

باب حطة

باب العتم

باب الغوانمة

باب الناظر

باب الحديد

باب القطانين

باب المطهرة

باب السلسلة

باب المغاربة

په جنوبي لوري کې يې درى دروازې بندې دي :

باب المنفرد

باب الثلاثي

باب المزدوج

په شرقي لوري کې دوه دروازې بندې دي .

باب الذهبي (باب الرحمة)

باب الجنائز

د پنجشنبې په سحر په ۲۲ د اګست په کال ۱۹٦۹ کې مسجد اقصی د یهودیانو په لاس باندې وسوزول شو او د مسجد قبلي شرقي طرف و سوزیدو او چت یې را و غورځېدو د حضرت صلاح الدین ایوبي رحمه الله جوړ شوی ممبر وسوزیدو او د شاوخوا د فلسطین نه د اطفایو په را رسېدلو سره هغه اور ګل کړل شو او بیرته یې ترمیم اردن په غاړه واخیست او جوړ یې کړو .

غار حراء

غار حراء هغه ځای دی چېرته به چې رسول اکرم ﷺ تر نبوت وړاندې ورتللو او له خلکو نه به ئې ځان ګوښه کولو او دلته به د خلوت لپاره کېناستللو او په همدې ځای کې د قران کریم د وحی شروع شوېده دا غار د جبل النور نومي غره په سر کې په ٦۳٤ متره لوړه باندې واقع دی او د عرفات لور ته د غزېدلې سړک په چپ اړخ باندې د مکې مکرمې نه

د ٤ کیلو متره په فاصله باندې پروت دی مخه یې د شمال په لوري خلاصه ده اوږدوالی یې څلور شرعي ګزه او ساره یې پاو کم څلور ګزه دي او په یو وخت کې په معمولي ډول سره پنځه کسان پکې کېناستلی شي . (الرحیق المختوم کتاب)

غار ثور

غار ثور هغه غار دی چې کله رسو ل ﷲ ☸ او د هغه خوږ ملګری حضرت ابوبکر ❼ د مدینې په سفر باندې روان وو نو دلته یې دمه کړې وه او هغه وخت چې د مکې مشرکین خبر شول چې رسول ﷲ ☸ وتلی دی نو ددوی په لټون پسې ووتل تر دې چې دې سوري ته هم ور ورسېدل او ددې غار په سر باندې په کاڼي باندې هم وختل خو ﷲ ⮝ ترینه رسول ﷲ ☸ او ابوبکر صدیق ❼ په خپل حفاظت کې پټ وساتل .

دا غار د جبل الثور غره په سر کې واقع دی چې د مکې مکرمې په جنوب کې دی او دا غر ۷۲۸ متره لوړ والی لري، د شمال نه په جنوب باندې د ٤۱۲۳ متره په ساحه باندې غزېدلی دی او د شرق نه غرب لوري ته ٤۰۰۰ متره مساحت لري.

دار الارقم

د اسلام په ابتداء کې د مسلمانانو د را ټولېدلو پټ مرکز وو په هغه وخت کې چې د اسلام تبلیغ لا ښکاره شوی نه وو نو مسلمانان به په پټه سره دلته جمع کېدل د اسلام بنیادي احکام او هغه څه به یې زده کول چې په رسول الله ﷺ به نازلېدل او پدې وخت کې چې دلته به په پټه سره را ټولېدل د صحابه وو شمېره تر ٤٠ کسانو څخه کمه وه او دا کور د صفا د غونډۍ سره وو او دا بیا د هارون رشید د پلار مهدي وو او هغه خپلې ښځې خیزران بنت عطاء ته تحفه کړو او یا هغې ترې واخستو هغې بیا په ١٦١ هجري کال کې مسجد حرام ته وقف کړو.

رسول الله ﷺ چې د دار الارقم کور د مرکز لپاره او د راټولېدلو د ځای په توګه غوره کړی وو پدې کې د رسول الله ﷺ لپاره دری وجې وې.

١. د ارقم اسلام چا ته نه وو معلوم نو چا دا فکر نه کاوه چې دلته به مسلمانان را ټول شي.

٢. دا حضرت ارقم بن ابی الارقم بن مخزوم وو او مخزوم هغه قبیله وه چې د قریشو سره یې دښمني وه او څرنګه چې د اسلام په راتلو سره پخوانی دښمنی

ختمې شوې نو رسول الله ﷺ هلته ورتلو او مشرکینو دا فکر نه کولو چې رسول الله ﷺ چې قریش دی نو هلته به ورشي .

۳. حضرت ارقم پدې وخت کې نوی ځوان وو ایله د ۱٦ کلونو په عمر کې وو قریشو به د مشرانو مسلمانانو په کورنو باندې څار کاوه د کشرانو په کورونو پسې یې نه کتل .

او حضرت ارقم ❼ بیا په ٥٥ کال د هجرت باندې په مدینه منوره کې وفات شو او د څه باندې اتیا کلونو وو .

جنة المعلاة

په مکه مکرمه کې زړه هدېره ده او له حرم سره نېږدې ده ډېره فاصله یې په مینځ کې نشته د حجون نومې لارې په سر کې واقع ده او چې حرم خواته روان وې نو د لارې په ښي اړخ باندې راځي ددې مقبرې په خوا کې د وفات شویو کسانو د پوره انتظام لپاره د غسل او تجهیز او تکفین پوره ځایونه شته او همدا ډول د مړیو د انتقال لپاره موټر شته او په عادي ډول دلته مړي وروسته ددېنه راوړل کیږي چې په مسجد حرام کې وربانديې د جنازې مونځ وکول شي ډېر

صحابه کرام رضی الله عنهم دلته دفن شوي دي لکه ام المومنين حضرت خديجه رضی الله عنها ، عبد الرحمن بن ابي بکر ❼ ، حضرت اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنها، حضرت عبد الله بن زبير ❼ ، او پدې وروستيو کې د سعودي لوی مفتي مولانا عبد العزيز ابن باز رحمه الله هم همدلته دفن شوی دی .

جبل الرحمة

جبل الرحمة ته د عرفات غر هم وايي ځکه د همدې سره د عرفات میدان دی او دا د مکې مکرمې نه د شرق لوري ته په شل کېلو متري کې واقع دی او په حج کې مهم رکن (په عرفات درېدل) د همدې غره سره پر ځای کیږي دې میدان ته عرفات وايي ځکه چې دلته مختلف خلک سره شناخته کیږي او یا چې کله جبرائیل ⌨ حضرت ابراهیم ⌨ ته د حج ځایونه او مشاعر ور ښودل دلته یې ورته ویل (اعرفت؟ اعرفت؟ یعنې پوه شوې؟ پوه شوې؟ حضرت ابراهیم ⌨ ورته ویل چې عرفتُ عرفتُ یعنې پوه شوم پوه شوم او یا دا چې کله حضرت آدم او حواء علیهما السلام له جنت نه را ښکته کړل شول نو پدې ځای کې دواړه سره ملاقي شول او یو بل یې سره و پېژندل.

مسجد قباء

لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ۭ فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ۝

د مدينې منورې نه په جنوب غربي سمت کې پروت دی په مربع

شکل باندې جوړ شوی جومات دی د مسجد د پخوانيو آثارو څخه پکې اوس يو کانی پاتی دی چې د جومات تاريخ ورباندې ليکلی دی او په کوفي خط ليکل شوی دی په ٤٣٥ هجري کال کې ددې جومات په تعمير او بادي کې رسول الله ﷺ پخپله شرکت کړی دی او دوهم ځلي تعمير يې حضرت عثمان 7 کړی دی او هغه فراخه هم کړو بيا عمرو ا بن عبدالعزيز چې په مدينه باندې والي وو هغه بيا ترميم کړو او مناره يې ورته جوړه کړه او په ٥٥٥ هجري کال کې جمال الدين اصفهاني بيا له سر نه نوی کړو او په ٦٧١ - ٧٣٣ - ٨٤٠ -٨٨١ کلونو کې بيا بيا نوی کړل شو د آخري ځل لپاره په ١٢٤٥ کې د عثماني خلافت په دوران کې تعمير کړل شو د سلطان محمد

الثاني او سلطان عبدالمجيد په دور کې
او بيا د آخري ځل تعمير لپاره ملک
فهد د پنجشنبې په ورځ په آتم د صفر
په کال ۱٤۰٥ کې د نوي تعمير او ابادي
د تهداب تيږه کېښوده او د دوو کلونو
کار نه وروسته په ۲۸/صفر /۱٤۰۷
باندي دا فراخ جومات جوړ شو چې کوم
تر اوسه پوري موجود دی اود زرګونو
مونځ کونکو ځای لري .

د ښځينه او نارينه وو لپاره د پوره
جدايي سره د مونځ کونکو ځايونه لري
څلور منارې او ٥٦ ګمبدې پکې جوړې کړل
شوي دي اوه لويې دروازې لري او ۱۲
فرعې او واړه ورونه پکې دي ٦٤
تشنابونه پکې د سړيو لپاره او ۳٤ پکې
د زنانه وو لپاره جوړ کړل شوي دي په
خوا کې ورسره د موذنينو او امامانو
لپاره هستوګنځی او يوه کتابخانه جوړه
کړل شوې ده.

مسجد ذی الحليفة

دېته مسجد شجره هم وايي دلته يوه ونه
وه رسول الله ﷺ به تري لاندې کېناستلو
او ذوالحليفه ددې ځای نوم دی چې په
کوم ځای کې دا جومات جوړ دی او دېته
مسجد ميقات هم وايي د مدينې منورې له
لوري نه چې څوک مکې مکرمې ته ځي

احرام ددې ځای نه آغوندي یعنې چې دا جمات د اهل مدینه لپاره میقات دی مبارک ځای دی او ددې جومات هم وروستنی او نوی تعمیر د ډیرې زیاتې فراخې سره د ملک فهد په زمانه کې شوی دی کوم یې چې اوس موجوده شکل دی .

مسجد القبلتین

دا جومات د هجرت په دوهم کال باندې جوړ کړل شوی دی د حضرت بنو سواد بنې غنم بن کعب په لاس او په خپل وخت کې په ښه غوره او قیمتي ډول سره جوړ کړل شو او ښه خواري ورسره شوې وه د هجرت په دوهم کال د شعبان په پنځلسم رسول الله ﷺ د ام بشر چې د بنې سلم د قبیلې نه وه د هغوی ځای ته ورغلی وو او د ماسپښین مانځه ته دې جومات ته راغلو چې په دې وخت کې قبله بیت المقدس وو په همدې ځای کې یې دوه رکعته بیت المقدس ته کړي وو هغه آیت نازل شو په کوم کې چې رسول الله ﷺ ته امر شوی وو چې نور د په مانځه کې مخ د بیت المقدس لوري ته نه بلکه د مکې مکرمې په لوري کوي او رسول الله ﷺ په مانځه کې مخ مکې مکرمې ته راوړ ولو او دهغې ورځې نه دې جومات ته مسجد

قبلتین (ددوو قبلو جومات) ویل کیږي .

بیا دا جومات حضرت عمر و ابن عبد العزیز جوړ کړو او نوی یې کړو په هغه پروګرام کې چه هغه ټول هغه جوماتونه نوي کړل په کومو کې چې رسول الله ﷺ مونځ کړی وو بیا په هماغه حالت باندې تر ۸ دېره وخته پورې پاتې شو او بیا شاهین جمالي په خپل وخت کې نوی کړو د سلطان عثماني په زمانه کې بیا نوی شو چې د بهر خوانه ورته قیمتي کاني ولګېدل او ښائسته کړل شو بیا دا جومات د ټولو تاریخي جوماتونو سره په یو ځای د ملک فهد په کوښښ سره فراخ او نوی جوړ شو کوم چې تر اوسه پورې په هماغه شکل کې دی.

مسجد جمعه

کله چې د هجرت په لمړي کال د ربیع الاول په دولسمه باندې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته ورسېدو تر څلورو ورځو پورې په قباء کې پاتې شو بیا د جُمې د ورځې په سحر ددې ځای نه روان شو د مدینې منورې په لوري په لاره کې د جُمعې د مانځه وخت شو او په وادي رانوناء کې یې د جُمعې مونځ اداء کړو بیا دا ځای په نښه کړل شو او کاني

پرې را ټول شول او مسجد جمعه نوم ورته کېښودل شو بيا به دا کاني پورته کېدل او جمات به ترې جوړېدلو او د وخت د تېرېدلو سره به هغه بيا غورځېدلو بيا وربانديې داسې شکلي تعمير نه وو شوی تردې چې په وروستيو وختونو کې يې ملک فهد په جوړېدلو او تازه کولو او په فراخه کولو بانديې يې حکم وکړو او دا جومات يې جوړ کړو چې کوم اوس موجود دی .

مسجد العنبرية

دا جومات د مدينې منورې د حرم نه غرب طرف ته واقع دی شاو خواته ته ترېنه تاو شوي باغ يوه قدرتي شکلا ورکړېده او په عهد عثماني کې چې ددې تعمير ښکه شوی دی هغه ډېر عجيب دی او په کمال جوړ شوی دی په هغه وخت کې چې ملک فهد د ټولو تاريخي جوماتونو ترميم کولو نو ددې جومات يې هم ضروري ترميم وکولو او فرش يې کړو او لکه د نورو جوماتونو په څېر اصلي آبادي د جومات يې ورانه نه کړه .

مسجد مصلی (مسجد غمامه)

دا جومات به رسول الله ﷺ د عیدینو د مانځه لپاره استعمالولو او دېته مسجد غمامه هم وایي رسول الله ﷺ به د استسقاء مونځونه هم دلته کول.

مسجد سُقیا

کله چې رسول الله ﷺ د بدر غزا ته روان وو د بیر سقیا په خوا کې یې مونځ کړی وو په هغه ځای باندې جومات جوړ شوی دی .

مسجد احزاب / فتح

د غزوه احزاب په وخت کې رسول الله ﷺ دری ورځې پدې ځای باندې مونځ اداء کړی دی .

مسجد ابي بکر

دا جومات د مسجد غمامه نه جنوب خواته واقع دی ویل کیږي چې حضرت ابوبکر الصدیق 7 دلته مونځونه کړي دي او په خاصه توګه د عید مونځ یې دلته کړی دی نو ځکه دا جومات دده په مبارک نوم شو یا د خلافت په وخت کې او یا د هغه نه وړاندې .

مسجد علی

دا هغه جومات دی چې ویل کیږي چې د حضرت عثمان ❼ د کور د محاصرې په وخت کې دلته حضرت علی ❼ مونځ کړی وو خو دده په نوم باندې د هغه وخت نه نومول شوی دی چې ده مبارک دلته د اختر مونځ کړی وو .

مسجد بني ظفر / مسجد بغل

دا جومات د جنت البقیع نه غرب طرف ته واقع دی دلته یو کانی دی چې تر اوسه پورې پرې د رسول الله ☸ د قچرې د پښې نښه ښکاره کیږي او بغل په عربي کې قچر ته وایي.

مسجد بني حرام

دا جومات مسجد فتح ته په تلو کې د جبل صلیه په ښي طرف کې واقع دی دلته سوری وو چې د غزوه خندق په وخت کې به رسول الله ☸ دلته د شپې آرام فرمایلو .

مسجد اُبی

دا جومات د جنة البقیع سره نږدې دی دلته د حضرت ابی ابن کعب ❼ کور وو او دلته به یې مونځ کولو .

مسجد ابي ذر (غفاري ❼)


دې جومات ته مسجد السجده هم وایي په خوا کې یې یو مشهور باغ دی چې نجدي ورته وایي او د حرم نه د میدان هوایي په لوري په غزېدلي سرک باندې واقع دی او دېته مسجد سجده ځکه وایي چې رسول الله ☸ دلته دوه رکعته مونځ اداء کړو او سجده یې ډېره اوږده کړه او چې کله د مانځه نه فارغ شو نو ویې فرمایل چې حضرت جبرائیل ⌨ ماته خبر راکړو چې څوک په ما باندې درود ووایي الله ⮝ په هغه باندې درود وایي .

جنة البقيع

جنة البقيع د مدېنې منورې عمومي او زړه هديره ده په زرګونو صحابه وو يعني لس زره کم او زياتو صحابه وو ته چې په هغوی کې دريم خليفه حضرت عثمان ❼ هم شامل دی او د حضرت بي بي خديجې او حضرت بي بي ميمونې نه بغير نورو امهات المومنين ته، حضرت عائشې رضی الله عنها ته، د رسول الله ☸ ګران تره حضرت عباس ❼ ته، محترم جليل القدر صحابي حضرت سعد ابن ابي وقاص ❼ ته ، حضرت عبد الرحمن ابن عوف ❼ ته ، حضرت عبد الله بن مسعود ❼ ته ، حضرت ابي سعيد خدري ❼ ته، حضرت امام مالک رحمه الله ته ، د رسول الله ☸ لورانو بي بي فاطمة الزهراء ته ، بې بې ام کلثوم، بې بې رقيه ، د رسول الله ☸ زوی مبارک حضرت ابراهيم ته ، د رسول الله ☸ رضاعي مور حضرت حليمه ته ، د رسول الله ☸ ګران لمسي حضرت حسن ❼ ته ، علی ابن الحسين، محمد الباقر، جعفر الصادق او نورو علماوو او اولياوو ته يې په خپله غېږه کې د ارام ځای ورکړی دی

د قرآن کریم په اړه معلومات

په قرآن کریم کې ۱۱٤ سورتونه دي پدې کې ۸۷ مکي دي او ۲۷ مدني دي .




لفظ د المسلمین په قرآن کریم کې ٤۱ ځله راغلی دی .



لفظ د الآخرة په قرآن کریم کې ۱۱۵ ځله یاد کړل شوی دی او لفظ د الدنیا هم ۱۱۵ ځله یاد کړل شوی دی .



لفظ د محمد په قرآن کریم کې څلور ځله راغلی دی او لفظ د سراج هم په قرآن کریم کې څلور ځله ذکر کړل شوی دی .



په کوم کور کې چې تلاوت کیږي هغه کور له اسمان نه په زمکه باندې داسې ښکاره کیږي لکه د زمکې خلکو ته چې په اسمان کې ستوري ښکاره کیږي .



د قـران کـریـم هـر سـورت پـه بـسم الله سره شروع کـیږي بـغیـر د سورت تـوبـه نـه او پـه سورت نـمل کـې د نـنـه هم یـوه بـسم الله شتـه .



پـه قـران کـریـم کـې اوه سورتـونـه دي چې د پـیغمبرانـو پـه نـومونـو سره نـومول شوي دي یـونـس، هود، یـوسف، ابـراهیم، محمد، نـوح .



پـه قـران کـریـم کـې تـر ټـولـو نـه اوږد سورت سورت بقـره دی چې ۲۸٦ آیـتـونـه لـري او تـر ټـولـو نـه وړوکی سورت سورة کـوثـر دی چې دری آیـتـونـه لـري .



قـل هـو الله داسې یـو سورت دی چې صرف یـو زیـر (لِ) پـکې راغلی دی .



پـه تـرتـیب کـې د قـران کـریـم اول سورة الـحمد لله او آخـر یـې سورة الـنـاس دی او پـه نـزول کـې اول سورة علق او آخـر یـې سورة الـنصر دی .



لفظ جلالة (الله) په قران کريم کې ۲۷۰۷ ځله راغلی دی .



وليتلطف کلمه هغه کلمه ده چې قران کريم په مينځ سره نيموي په سورة کهف کې ده .



په قران کريم کې هر سورة نوم لري ځيني داسي سورتونه هم شته چې ډېر نومونه لري لکه سورة الفاتحه شل نومونه لري د مثال په توګه ، سورة الفاتحة، ام الکتاب، السبع المثاني، الکنز، الوافية، الکافية ، الشافية.



په قران کريم کې تر ټولو نه وړوکی آية (يس) دی او تر ټولو نه اوږد آيت آية مدائنه دی چې په سورة بقره کې دی اية ۲۸۲.



په قران کريم کې ۲۹ سورتونه په حروف مقطعاتو سره شروع شوي دي .



په قران کريم کې پنځه سورتونه په الحمد سره شروع شوي دي سورة

الفاتحه، سورة انعام، سورة کهف، سورة سباء، سورة فاطر.



په قران کریم کې اوه سورتونه دي چې په تسبیح سره شروع کیږي سورة اسراء، سورة اعلی، سورة تغابن، سورة الجمعة، سورة الصف، سورة الحشر، سورة الحدید.



په قران کریم کې درې سورتونه په یا ایها النبي سره شروع کیږي سورة احزاب، سورة الطلاق، سورة التحریم .



په قران کریم کې درې سورتونه په یا ایها الذین آمنو سره شروع کیږي سورة المائده، سورة الممتحنة، سورة الحجرات.



په قران کریم کې پنځه سورتونه په قل سره شروع کیږي ، سورة جن، سورة الکفرون، سورة الاخلاص، سورة الفلق، سورة الناس.



په قران کریم کې دوه سورتونه په یا ایها الناس سره شروع کیږي سورة النساء ، سورة الحج.



په قران کریم کې پنځلس سورتونه په قسم سره شروع کیږي الذاریات، سورة الطور، سورة النجم، سورة المرسلات، سورة النازعات، سورة البروج، سورة الطارق، سورة الفجر، سورة الشمس، سورة اللیل، سورة الضحی، سورة التین، سورة العادیات، سورة العصر، سورة الصافات.



په قران کریم ۲۵ پیغمبران یاد کړل شوي دي .

حضرت محمد، آدم، ابراهیم، اسمعیل، الیاس، ادریس، ایوب، عیسی، موسی، نوح، لوط، یوسف، یعقوب، یوشع، هود، یونس، صالح، شعیب، داود، یحی، ذکریا، ذالکفل، سلیمان، هارون، اسماعیل صادق الوعد.



د قران کریم په آیتونو کې مختلفي موضوع ګانې تر بحث لاندې نیول شویدي یوځو داسې موضوع ګانې دي چې ډېر

آیتونه وربانديِ راغلي دي هغه یو څه په لانديِ ډول دي .

عقائد ۱٤٤۳ آیتونه

توحید ۱۱۰۲ آیتونه

عبادات ٤۱۱۰ آیتونه

اجتماعي نظام ۸٤۸ آیتونه

دین ۸۲۸ آیتونه

تهذیب الاخلاق ۸۰۳ آیتونه

د رسول الله ﷺ په شان کې ٤۰٥ آیتونه

تبلیغ ٤۰۰ آیتونه

قران کریم ۳۹۰ آیتونه

نصارى ۱٦۱ آیتونه

بني اسرائیل ۱۱۰ آیتونه

علوم او فنون ۸۰ آیتونه

شریعت ۲۹ آیتونه .



په قران کریم کې سورة الرحمن ته عروس القران هم ویل کیږي .

په قران کریم کې سورة بقرة ته سنام القران هم ویل کیږي .



هغه سورة چې لوستونکي ته يې د قبر له عذاب نه نجات ورکوي هغه سورة الملک دی .



هغه سورة يس دی چې د قران کريم زړه ورته ويل کيږي .



سورة الواقعة هغه سورت دی چې څوک يې هره شپه وايي غريب به نشي .



چې په کوم کور کې ولوستل شي شيطان له هغه کور نه تښتي هغه سورة البقرة دی .



سورة مجادله دی چې په هر آيت کې يې د الله نوم راغلی دی .



کله به چې ملائکي رسول الله ☸ ته وحی راوړه نو په روحاني توګه به يې د هغه په زړه کې وحی ور اچوله او يا به جبرائيل ⌨ له لوح محفوظ نه يادولو او بيا به يې رسول الله ☸ ته ور آورولو (عمدة القاري)



په مخکنيو پيغمبرانو باندې هم وحی په عربي ژبه کې نازلېده بيا به پيغمبر خپل قوم ته دهغوی په ژبه کې تشريح کوله (الاتقان)



کله چې سبح اسم ربک الاعلی سورت نازل شو نو رسول الله ﷺ و فرمايل چې دا سورت د حضرت موسی او حضرت ابراهيم عليهم السلام په صحيفو کې هم نازل شوی وو.



سورت انعام په مکه مکرمه کې ټول په يوه شپه کې نازل شو او ددې د نازلېدلو سره اويازره پرښتې راغلي وې او هغوی د الله ﷻ تسبيح ويله (الا تقان)



حضرت ابو مريم غسايي رضي الله عنه فرمايي چې زه رسول الله ﷺ ته راغلم عرض مې وکړو چې زما په کور کې نن شپه ماشومه پيدا شوېده هغه ﷺ راته و فرمايل چې نن شپه په ما باندې سورة مريم نازل شوی دی نو ددې ماشومې نوم مريم کېږده .



حضرت مریم علیها السلام هغه ښځه ده چې نوم یې په قران کریم کې راغلی دی او وجه یې داده چې نصارا پدې عقیده وو چې مریم د الله ښځه ده او حضرت عیسی ⌨ دهغه زوی دی (العیاذ بالله) نو الله ⮝ بیا بیا دهغې نوم په قران کې ذکر کړی دی چې دوی ته ښکاره کړي چې که دا د الله ⮝ ښځه وای نو الله به یې نوم نه اخیسته .



په قران کریم کې د څه کافرانو نومونه هم یاد کړل شوي دي چې یو دهغوی نه قارون دی ، جالوت (یو بادشاه وو) ، بشری (چې د یوسف ⌨ په واقعه کې راغلی په یو قول دا د یو کس نوم وو هغه ته اواز وشو چې یا بشری) آذر چې د ابراهیم ⌨ تره او یا پلار وو ، النسئ د بني کنانه د قبیلي یو کس وو. (الا تقان فی علوم القران)



د شیطانانو له ډلې نه په قران کریم کې صرف د ابلیس نوم یاد کړل شوی دی او همدا د ټولو شیطانانو مشر پلار دی .



په قران کریم کې د څه بتانو نومونه هم راغلي دي :

ود، سواع، یغوث، یعوق، نسر دا پنځه واړه د نوح د قوم بتان وو د حضرت ابن عباس په یو روایت کې چې دا پنځه واړه د نوح د قوم مخه ور او نیک کسان وو کله چې هغوی مړه شول نو شیطان ددوی په زړونو کې دا خبره ور واچوله چې دهغوی پر ځایونو باندې بتان جوړ کړئ او د همدوی نومونه وربانديې کیږدئ ترڅه وخته پورې چې د هغې زمانې خلک ژوندي وو نو دې کانو ته به یې د عزت په نظر کتل او احترام به یې ورته په زړه کې لرلو چې دا دهغه مړو کسانو نښې دي او چې کله یو څه زمانه تېره شوه دا خلک چې د حقیقت نه خبر وو دا مړه شول نو د کانو هماغه نومونه پاتې شول او نوی نسل چې راغلو هغوی دا کانې د خدایانو په حیث ومنل او عبادت یې ورته شروع کړو .

لات : دا هم د بت نوم دی په اصل کې دا هم د یو کس نوم وو .

منات ، عزا دا دری واړه د د قریشو بتان وو. جبت او طاغوت هم دواړه بتان وو الرشاد (چې په قران کریم کې راغلی دی چې و ما اهدیک الا سبیل

الرشاد د یو قول له مخې دا هم د فرعون د زمانې یو بت وو بعل د الیاس د قوم بت وو او په یو قول کې آذر هم د یو بت نوم دی . (الاتقان فی علوم القران دوهم جلد ۱۸۱ صفحه)

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

الله ﷻ په مخلوقاتو کې اول اوبه پيدا کړي دي .

په صحيح ترمذي کې روايت دی چې اول صرف د الله ذات ﷻ وو نو هيڅ شی موجود نه وو نو اول الله ﷻ اوبه پيدا کړې او بيا يې هرشی له اوبو څخه پيدا کړل او د الله ﷻ عرش په اوبو باندې ايښی وو او شاوخوا ترينه لوګی او وريځ وه بيا الله ﷻ قلم پيدا کړو هغه ته يې امر وکړو چې وليکه هغه ټول هغه څه وليکل چې تر ابد پورې به کيږي .

په دنيا کې اول غر

د ابي قبيس غر هغه غر دی چې الله ﷻ لمړی په زمکه باندې را پورته کړيدی .

جبل ابي قبيس د مکرمې نه په شرقي لوري کې پروت دی وړوکی دی ٤٢٠ متره لوړ والی لري او ابي قبيس ورته ددې امله وايي چې اول ابادي وربانديې يو سړي کړيده چې نوم يې ابي قبيس وو له حضرت ابن عباس ❼ څخه روايت دی چې رسول الله ☸ و فرمايل چې د زمکې اول

توته چې الله پيدا کړه هغه دا زمکه وه
چې اوس کعبه وربانديې جوړه ده او بيا
يې نوره زمکې ترينه وغزوله او الله ⮝ په
زمکه باندې اول جبل ابي قبيس جوړ کړو
او بيا يې نور غرونه ترېنه و غزول
او ديته جبل امين (امانت ساتونکی
غر) هم وايي ځکه چې د طوفان نوح په
وخت کې حجر ا سود دده په خيټه کې
ساتل شوې وه او چې کله ابراهيم ⌨
کعبه جوړه کړه نو غره اواز وکولو چې
حجر اسود دلته دی بيا په يو قول
باندې حضرت جبرائيل ⌨ له غره نه را
واخيسته او حضرت ابراهيم ⌨ ته يې
حواله کړه او په يوه روايت کې قبس د
شغلې را اخستلو ته وايي او دېته ابي
قبيس وايي چې حجر اسود د همده نه را
اخستله شوېده .

په دنيا کې اول قاتل

قابيل هغه کس وو چې اول يې په زمکه
باندې د انسان قتل کړی دی .

د حضرت حواء عليها السلام اولاد به
داسې کېدو چې په يو ځل به يې يو
ماشوم او يوه ماشومه پيدا کېدل بيا
به يې د يو ځل پيدا شوی هلک او د بل
ځل پيدا شوې جينۍ په مينځ کې واده
کولو د قابيل سره چې کومه جينۍ پيدا

شوي وه هغه ښکلې وه او له هغې سره د واده کولو حق د هابيل جوړيدو او قابيل بايد له هغه جينۍ سره واده کړی وای چې د هابيل سره پيدا شوې وه حضرت آدم ﷺ د حج په سفر لاړو او دوی ته يې وويل چې تاسې قرباني وکوئ چې د هرچا قرباني قبوله شوه هغه په حقه دی او په هغه وخت کې د قرباني د قبلېدلو نښه به داوه چې اور به راتللو او هغه به يې پورته کوله چې وروسته ښکاره شوه د هابيل قرباني قبوله شوه او د قابيل قبوله نه شوه سره ددې چې د قابيل قرباني په بدن کې ښه وه او چاغه وه نو يې هابيل ته وويل (لا قتلنک حتی لا تنکح اختي) نو هابيل ورته وويل چې الله ﷻ د نيکانو قرباني قبلوي پدې سره د قابيل په زړه کې د خپل ورور هابيل لپاره غصی ځای پيدا کړو او هابيل به په زمکه کې کار کولو نو چې يو وخت قابيل پيدا کړو چې هغه ويده وو نو لوی کانی يې را واخيستو او د هابيل سر يې وربانديې وويشتو او مړ يې کړو او په يو قول چې په مری يې ورته زور کړو او هغه يې شهيد کړو د زمکې په مخ باندې دا لمړی قتل وو .

د اول ځل لپاره بسم الله لیکل

د اول ځل لپاره بسم الله حضرت سلیمان ⌨ لیکلې ده چې قران کریم له هغه نه حکایت کړی دی چې هغه بلقیس ته په خپل خط کې لیکلي وو چې انه من سلیمان و انه بسم الله الرحمن الرحیم او چې کله د آیت نازل شو نو بیا مسلمانانو ددې کلمې لیکل شروع کړل امام الصولي وایي چې ما د ابا خلیفه نه ددې پوښتنه وکوله چې بسم الله اول چا لیکلې ده؟ هغه راته وویل چې له ابن عائشه نه دا پوښتنه وشوه هغه په جواب کې وویل چې قریشو به لیکل چې بسمک اللهم بیا چې کله دا آیت نازل شو چې بسم الله مجریها و مرسها نو بیا به رسول الله ☸ امر کولو چې د خطونو په سر کې داسې لیکئ چې بسم الله او بیا چې کله دا آیت نازل شو چې ادعو الله او ادعوا الرحمن نو بیا رسول الله ☸ د بسم الله الرحمن د لیکلو هدایت و کولو او چې کله سورة النمل نازل شو نو بیا رسول الله ☸ و فرمایل چې د خطونو په سر کې اوس بسم الله الرحمن الرحیم لیکئ .



المصحف

امام زرکشی په البرهان فی علوم القران کې فرمایلي دي چې قران کریم ته المصحف ویل د اول ځل لپاره هغه وخت پیل شول کله چې حضرت ابو بکر صدیق ❼ قران کریم سره را ټول کړو او یوه مجموعه یې ترې جوړه کړه صحابه وو ته یې وویل چې اوس دېته یو نوم کېږدی دیته به څه وایو ؟ ځینې وویل چې انجیل به ورته ووایو نو ځینې صحابه وو بیا بده وګڼله ځکه پدې نوم یو اسماني کتاب موجود دی ، ځینې وویل چې السفر به ورته وایو نو دا هم ځینو خوښه نه کړه حضرت عبد الله بن مسعود ❼ وویل چې ما لیدلي ووچې د حبشو یو کتاب وو هغوی به دي کتاب ته مصحف ویل نو راځئ چې مونږ هم ورته مصحف ووایو نو بیا ورته مصحف نوم خوښ کړل شو .

په اسلام کې اول شهیده

په اسلام کې اول شهیده حضرت سمیة رضی الله عنها وه دا د حضرت عمار ابن یاسر ❼ مور وه او په هغه کسانو کې وه چې هغه وخت یې ایمان راوړی وو چې د اسلام شروع وه او اوم نمبر مسلمانه وه

حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها ، حضرت ابو بکر صدیق ، حضرت بلال، حضرت صهیب، حضرت خباب، حضرت عمار (خپل زوی یې) رضی الله عنهم ددینه وړاندي مسلمانان شوي وو او بیا ورپسي دا مسلمانه شوه دا ابو جهل په خپله نیزه باندي وهلې وه او زخمي وه او دهغه زخم نه بیا شهیده شوه او دا په اسلام کي اول شهیده وه او چي کله په بدر کي ابو جهل مردار شو نو رسول الله ﷺ حضرت عمار ❼ ته وویل چي ستا دمور قاتل الله ▲ مړ کړو .

په بیت الله کي د ننه پیدا کېدونکی ماشوم

حکیم بن حزام بن خویلد تر اوسه پوري یوازیني هغه کس دی چي په مکه مکرمه کي دننه پیدا شوی دی چي کله دده مور له نورو ښځو سره د زیارت په نیت بیت الله ته ننوتله او پدي وخت کي د بیت الله دروازه د څه مناسبت له امله خلاصه وه نو دا په داسي حال کي چي حامله وه د ماشوم د پیدا کېدلو درد وربانديي راغلو هغه دومره زر تیز شو چي دي دا وخت پیدا نه کړو چي له دي ځای نه بهر شي نو همالته چا ورته د څرمني یوه

توته راوړه او هلته يې ماشوم پيدا شو دا ماشوم حکيم بن حزام بن خويلد وو.

په اسلام کې اول جومات

په اسلام کې اول جومات مسجد قباء جوړ شوی دی کله چې رسول الله ﷺ د هجرت په لمړي کال د ربيع الاول په مياشت کې مدينې منورې ته هجرت وکړو نو د يوڅو ورځو لپاره په بني عمرو بن عوف کې پاتې شو او دلته يې مسجد قباء جوړ کړو رسول الله ﷺ پخپله خاورې او تيږې پورته کولې او صحابه وو به ورسره مرسته کوله امام طبراني له شموس بنت نعمان نه روايت کړی دی چې ما رسول الله ﷺ ته کتل چې ددې جومات په تعمير کې يې کار کولو ما ليدلو چې تيږه او يا خته به يې کېښوده او هغه به يې بيا همواره کړه او ما د رسول الله ﷺ په ځان مبارک باندې سپينه خاوره وليده چې سريښ وه په صحابه وو کې به ورته څوک راغلل چې زما مور او پلار ستانه قربان شه مونږ يې کوو خو دی نه کېناستلو او بيا يې هم کار کولو دوی جومات جوړولو او ابن رواحه ورته ترانه ويله هغه ويل (افلح من يعالج المساجدا .... رسول الله ﷺ به هم ورسره غبرګه کړه ويل به يې المساجداً بيا به

هغه ویل یقرء القرآن قائماً و قاعداً .... رسول الله ﷺ به ورسره غبرګه کړه چې ...... قاعداً . ﻻﻻﻻ

اول مسلمانه حضرت خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها

حضرت خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها هغه ښځه وه چې اول ایمان یې راوړی دی .

کله چې نبي کریم ﷺ په غار حراء کې وو نو اواز ورته وشو چې اقرء (ولوله) نو رسول الله ﷺ وویل چې زه لوستونکی نه یم دا امر کونکی جبرائیل ﷺ وو بیا یې ورته وویل چې ولوله رسول الله ﷺ خپل جواب بیا ورته تکرار کړو په دریم ځل هغه ورته وویل اقرء بسم ربک الذي خلق ..... چې کله رسول الله ﷺ د غار حراء نه کور ته راغلو نو په بدن کې یې ستوماني او ستړیا وه حضرت خدیجې رضی الله عنها ته یې وویل چې ما په څه شي کې و نغاړه دی رضی الله عنها ورته ویل چې مه وارخطا کیږه ته ښه انسان یې ته امانت ساتونکی یې، ته رښتې ساتې او ته دروغ نه وایې الله به تا ته څه ډول بد نه در رسوي .

بیا رسول الله ﷺ او حضرت خدیجه رضی الله عنها دواړه ورقه بن نوفل ته ورغلل هغه د حضرت خدیجې رضی الله عنها د تره زوی وو نیک انسان وو او د ښې تجربې او لوی عمر مالک او په هغه وخت کې موحد او راهب وو هغه ته خدیجې رضی الله عنها وویل چې لدې ورور نه دې واوره چې ده څه لیدلي دي؟ هغه رسول الله ته وویل چې څه دې لیدلي دي؟ هغه ته رسول الله ﷺ ټوله قصه تېره کړه.. هغه ورته وویل چې بیا درته راغلو نو صبر ورته وکوه چې هغه تاته څه وايي او چه یې څه درته وویل هغه بیا ماته ووایه بیا ورته ورقه وویل چې ته خوشحال شه ته هغه کس یې چې حضرت عیسی ⌨ ته ستا په اړه ویل شوي وو ته به یو څه وخت وروسته خلکو ته د جهاد امر وکوې که زه په هغه وخت کې ژوندی وم نو زه به ستاسره په جهاد کې شریک کېږم . کاش زه په هغه وخت کې ژوندی وم چې کله دا خلک تا له دی ځای نه وباسي ... رسول الله ورنه پوښتنه وکوله ایا دوی به ما اوباسي؟ هغه ورته وویل چې هو هرڅوک چې د داسې شي سره راشي له کوم شي سره به چې ته را ځې ... که زه په هغه وخت کې ژوندی وم زه به ستا مرسته وکوم کله چې ورقة مړ شو

نو رسول الله ﷺ وویل چې ما ته را ښکاره کړل شو چې هغه په جنت کې وو او سپین څادر پرې خپور شوی وو ځکه هغه په ایمان راوړی وو او زما تصدیق یې کړی وو.

نو چې کله حضرت خدیجې رضی الله عنها دا هرڅه ولیدل چې تراوسه پورې له هرچا نه پټ وو نو همدلته پرې خدیجې رضی الله عنها ایمان راوړ او د اول مسلمان لقب یې واخیستو .

په ماشومانو کې اول مومن

حضرت علی ❼ اول هغه کس وو چې په ماشومانو کې یې ایمان راوړو.

چې کله په رسول الله ﷺ باندې دا آیت نازل شو چې و انذر عشیرتک الا قربین نو رسول الله ﷺ ټولو خپلوانو ته د مهمانۍ دعوت ورکړو او په یو ځای کې یې سره را ټول کړل او هغوی ته یې وویل ای د عبد المطلب اولاده زما دې قسم وي چې په عربو کې زه داسې ځوان نه وینم چې قوم ته یې داسې شی راوړي وي لکه ما چې تاسې ته راوړي دي ما تاسې ته د دنیا او اخرت خیر راوړی دی او ما ته الله ﷻ امر کړی دی چې تاسې ورته را وغواړم په تاسې کې څوک داسې

شته چې پدې کې زما مرسته وکوي او زما ورور او ملګری شي؟ نو چا هم ورته جواب ورنه کړو صرف حضرت علی ❼ چې په دي وخت کې ماشوم وو هغه دي اواز ته لبیک وویل او اسلام یې قبول کړو .

په غلامانو کې اول مسلمان

حضرت بلال بن رباح ❼ اول هغه کس وو چې په غلامانو کې یې ایمان راوړو.

حضرت بلال ❼ غلام وو ده به صرف د خلکو نه او د راغلو مېلمنو نه د محمد ☸ په اړه آورېدل او دهغه د امانت او دیانت خبرې به یې آورېدلې آخر دا چې د محمد ☸ لیدلو ته لیواله شو او راغی د حضرت رسول الله ☸ سره یې ایمان راوړو څرنګه چې هغه یو غلام وو او بیا یې هم دومره جرئت وکړو چې راشي او مسلمان شي نو خبر یې په هر طرف کې خپور شو ټول خلک پدې خبر شول چې بلال ایمان راوړو پدې سلسله کې یې مالک امیة بن خلف هم خبر شو او دده تعذیب کول یې شروع کړل او هغه به یې د مکې په ګرم لمر کې د غرمې په وخت کې بهر ته وویستلو او لوخ به یې په شګو باندې څملولو او بل لوی کانی به یې وربانديې لپاسه کېښودو او دا عذاب به یې هره

ورځ ورکولو لکن د حضرت بلال په زړه کې د ایمان مینه ور ننوتلې وه او د ه ته ئې په هر تکلیف باندې د صبر کولو وس ورکړی وو هغه په تکلیفونو باندې پوره صبر کړی وو تردې چې یو وخت په همداسې تکلیف کې حضرت ابوبکر صدیق ❼ ولید نو هغه واخستلو او بیا یې ازاد کړو بیا یې پدې اړه رسول الله ته زیری ورکړو .



ابراهیم اول هغه کس وو چې ډوډی یې په ښوروا کې ماته کړه .



حضرت ادریس اول هغه کس وو چې لیکل یې وکول او جامې یې و ګنډلې .



حضرت ادریس هغه کس دی چې اول یې جامه ګنډلې او آغوستې او ددینه وړاندې به خلکو څرمنې آغوستلې .



الله اکبر اول ځل حضرت ابراهیم ویلی دی .



د جمعې د ورځې لپاره اول ځل غسل حضرت ابراهيم ⌨ کړی دی .



پر منبر باندې لمړی خطبه حضرت ابراهيم ⌨ لوستلې ده .



د مسلمانانو نه له مکې نه مدينې ته اول هجرت حضرت ابو سلمه بن عبد الله کړی دی او د قيامت په ورځ به هغه اول کس وي چې د رسول الله ☸ په امت کې ورته په ښي لاس باندې عمل نامه ورکول کيږي .



هغه صحابي چې د رسول الله ☸ سره يې په بيعة الرضوان کې اول بيعت کړی دی حضرت سنان الاسدي ❼ دی او په يو قول کې دده پلار ابو سنان الاسدي ❼ دی .



هغه لمړی ښځه چې د رسول الله ☸ سره يې بيعت کړی دی هغه ام عامر الاشهلية ده او په يو قول کې دی چې نه اول بيعت کونکې ښځه د سعد بن معاذ ❼ عنه مور وه .



اول مسواک استعمالونکی حضرت ابراهیم دی په یوه قول کې چې حضرت موسی دی .



د صفایي لپاره په پوزه اوبه تیرول هم هغه سنت دي چې اول حضرت ابراهیم کړیدي .



د نوکونو پرې کول هم لمړی حضرت ابراهیم کړي دي .



همدارنګه د بریتو پرې کول او د تخرګ ویښته او د نو لاندې ویښته لمړی حضرت ابراهیم پرې کړي دي .



اول ږیره د حضرت ابراهیم سپینه شویده .



د نارینه سنت کول هم هغه سنت دي چې لمړی حضرت ابراهیم خپل ځان سنت کړی دی .



د بغية په حواله باندې استنجاء په اوبو سره لمړی حضرت اسمعیل کړېده .



مېلمه پالنه هم لمړی حضرت ابراهيم کړېده .



حضرت ادريس لمړی هغه کس دی چې سلاح يې جوړه کړېده او د ددښمنانو مقابلې ته يې تياری کړی دی .

په اسلام کې لمړی خطبه

حضرت ابو بکر صديق په اسلام کې اول هغه خطيب دی چې اسلام ته يې خلک را غوښتي دي په هغه وخت کې چې د مسلمانانو شمېره پنځوسو کسانو ته ورسېده نو حضرت ابو بکر صديق حضرت رسول الله ته وويل چې نور اسلام ښکاره کوو هغه مبارک ورته وويل چې لا يو څه نور صبر هم کوو لکن حضرت ابو بکر صديق وربانديې ټينګار وکاوه نو مسلمانان را ووتل او په مسجد کې خپاره کېناستل حضرت ابو بکر صديق ورته پا څېدو خطبه يې وويله او اسلامي

وعظ يې شروع کړو تردې چې د مکې مشرکين وربانديې را تول شول او تول مسلمانان يې ووهل په خاصه توګه حضرت ابو بکر صديق ❼ يې زيات ووهلو او لوی کافر عتبه بن ربيعه ورته راغلو او په څپليو سره يې په مخ مخ بانديې ووهلو .

په اسلام کې لمړی خليفه

په اسلام کې اول خليفه حضرت ابو بکر صديق ❼ دی کله چې رسول الله صلی الله عليه و سلم وفات شو نو پر ځای يې تول اختيارات حضرت ابو بکر صديق ❼ ته پاتې شول .

په مدينه منوره کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لمړی هستوګنځی

په مدينه منوره کې رسول الله ☸ اول د ابو ايوب انصاري ❼ په ځای کې پاتې شوی دی کله چې دی مبارک ☸ مدينې منورې ته را رورسيدو نو تولو خلکو يې په مينه سره استقبال وکولو او هرچا غوښتل چې د دوی په کور کې پاتې شي او د دوی سره لاړ شي رسول الله ☸ به تولو ته په مينه او خندا سره ځواب ورکولو او

دهغوی شکریه به یي اداء کوله او ورته
ویل به یي چي دا (اوښه) پرېږدئ دېته
د کوم ځای ته د تلو حکم شوی دی تردي
چي اوښه تر هغه وخته پوري تله چي دار مالک
بني نجار ته را ورسېده او دلته و درېده
رسول الله صلی الله اوښه مخي ته روانه کړه هغه چي
لږ لاړه بېرته خپل زاړه ځای ته را تاو شوه
رسول الله ☸ تري را ښکته شو پدي وخت کي حضرت
ابو ایوب انصاري ❼ ورته راغلو چي مخ یي د
خوشحالی نه رڼا کوله رسول الله ☸ یي له ځان
سره کور ته بوتلو او بیا رسول الله ☸ تر هغه
وخته پوري دلته پاتي شو چي تر څو یي خپل
جومات او خپل هستوګنځی جوړ شوی نه وو .

په اسلام کي لمړی وینه

په اسلام کي اوله وینه حضرت سعد بن
ابي وقاص ❼ تویه کړېده دا هغه وخت وو
چي حضرت سعد ❼ د څه صحابه وو سره د
مکي په کوم ځای کي پټ مونځ کولو او
پدي وخت کي د مشرکینو کوم کس دوی
ولیدل او مسخري یي ورپوري شروع کړي
چي دا تاسي څه کوئ او د هغه سره خبره
واوښته او چي جنګ شو دلته د اوښ
هډوکی پروت وو حضرت سعد ❼ ته هغه په
لاس ورغلو مشرک یي ورباندي ووهلو سر
یي ورمات کړو او دا اول وینه وه چي
په اسلام کي تویي کړل شوه .



حضرت ادریس هغه پیغمبر دی چې د آدم په اولاده کې لمړی ورته پیغمبري ورکړل شوېده .



حضرت آدم هغه کس دی چې لمړی یې پدې جمله باندې تلفظ کړی دی (الحمد لله رب العلمین) .



حضرت اسمعیل اول هغه کس دی چې په آس باندې سپور شوی دی .

لمړی آس پالنه

ابو هلال عسکري په خپل کتاب الاوائل کې ذکر کړي دي چې آس په اول کې وحشي حیوان وو بیا حضرت اسمعیل له ځنګل نه راوستلو راوستلو او هغه یې آمیخته کړو بیا یې خپل اولاد ته هم همدا طریقه وښودله ددې وخت نه یې په اولاد کې دا فن پاتې شو ځکه تر اوسه پورې د آسونو ساتنه تر هر چا نه عرب ښه کوي .



په دنیا باندې اول کلی د حضرت نوح په واسطه جوړ شوېدی چې اتیا کورونه وو پکې او ثمانین یې ورته ویل.



د زمکې په سر باندې لمړی جومات مسجد حرام دی .



د حضرت اسمعیل مور حضرت هاجر هغه ښځه ده چې اول یې د صفا او مروه په مینځ کې سعی کړېده.



په مکه کې اوله اوسېدونکې قبیله قبیلة العمالقه ده .



هاشم بن عبد مناف هغه کس وو چې اول ځل یې حاجیانو ته ډوډۍ ورکړې .



اول هغه کس چې عربي خطبه یې ویله او په خپله توره یې تکیه کړې وه قیس بن ساعده الایادي وو.



په سړیو کې اول ایمان راوړونکې حضرت ابوبکر صدیق ❼ وو.

د غفار د قبیلې نه لمړی مسلمان

حضرت ابو ذر غفاري ❼ لمړی هغه کس وو چې د غفار قبیلې نه (چې لویه قبیله ده) په ایمان مشرف شو .

حضرت ابن عباس ❼ دده په اړه فرمایي چې ده وویل مونږ د رسول الله ﷺ په اړه واورېدل نو خپل ورور ته مې وویل چې ته لاړ شه مکې ته او دا حال راوړه د ابوذر ❼ هم دا یو ورور دی هغه چې بېرته را وګرځېد ما ترې پوښتنه وکوله چې څه دي ولیدل هغه را ته وویل چې یو نېک کس وو نېکي خبرې یې کولې خبرې یې ډېرې ښې لګېدلې او شعر نه وو نثر خبرې وې (او د حضرت ابو ذر ❼ ورور شه شاعر وو وروسته بیا ده هم ایمان راوړی دی) ما چې د ورور دا خبرې واورېدې نو په خپله مې مکې ته د تلو اراده وکوله مسجد حرام ته راغلم دا ورځ مې همدلته تېره کړه او له چا نه مې پوښتنه ونه کوله څکه چې چا به هم پوښتنه وکوله نو هغه به وهل کېدو او مشرکینو به کوښښ کولو چې څوک پرې نه

ږدي چې درسول الله ☸ سره ملاقات وکوي
په همدې حالت کې په ما دريمه ورځ
راغله او له چا څخه مې پوښتنه نشو
کولی چې پدې ورځ مې يو کمزور انسان
وليد ما په زړه کې وې چې راځه دده نه
به پوښتنه وکوم دا خو ماته څه ضرر
نشي را رسولی نو ورغلم ده ته مې وويل
چې هغه کس چېرته دی چې خلک وايي له
خپل دين آوښتی دی؟ هغه خلکو ته اواز
کړو او هغوی را باندې راتول شول او
زه يې په خپلو وينو کې ولړلم بيا
حضرت علی ❼ را سره مخامخ شوه دهغه
سره د څه خبرو نه وروسته پدې رضا
شوم چې رسول الله ☸ ته ورغلو او هلته ما
اسلام قبول کړو رسول الله ☸ ماته وويل چې
څه ته لاړشه زما تر ښکاره کېدلو پورې
ځان پټ وساته او چې کله مونږ اعلان
وکولو بيا به خپل اسلام ښکاره کړې
حضرت ابوذر ❼ وويل چې زما د قسم وي
زه به د دوی په مخ کې په خپل اسلام
اواز پورته کوم نو مسجد حرام ته
راغلو او په زوره يې اواز وکړو چې
اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمداً
عبده و رسوله . پدې سره د مکې
مشرکين يو ځل بيا په ده را تول شول
او تر مرګه پورې يې ووهلو پدې کې
حضرت عباس ❼ راغلو او خلکو ته يې

وویل چې تاسې ته دا معلومه ده چې دا د غِفار قبیلي سړی دی او ستاسې د تجارت لاره په همدې قبیله ده که دا مړ شو ستاسې لارې به بندې شي بیا هغه زه ترې خلاص کړم.

د انصارو نه لمړی مسلمان

حضرت ابو الهیثم مالک بن التیهان ❼ اول هغه کس وو چې د انصارو نه په اسلام مشرف شو حضرت ابو الهیثم ❼ هغه کس وو چې په جاهلیت کې یې هم د بتانود عبادت څخه نفرت کاوه او بد یې ګڼل کله چې په رسو ﷲ ☸ باند د ایمان د راوړلو سلسله شروع شوه نو په آتو کسانو مسلمانانو کې یو حضرت ابو الهیثم ❼ وو ایمان یې راوړو بیا مدینې منورې ته راغلو او خپل قوم ته یې اسلام راوړو او چې کله رسول ﷲ ☸ مدینې منورې ته راغلو حضرت ابو الهیثم ❼ هغه کس وو چې د اولو کسانو په ډله کې ورسره ملاقې شو.

د رومیانو نه لمړی مسلمان

حضرت صهيب بن سنان بن مالک بن النمر ❼ هغه اولنی کس وو چې د روم د خلکو نه مسلمان شو حضرت صهيب ❼ د هغه کس زوی وو چې پلار يې د ډېرې علاقې مشري په غاړه لرله او د کسرى له لوري ورباندې حاکم شوى وو د فرات سيند په غاړه يې ښکلى کور او په ماشوم توب کې يې ښه ژوند تېر کړى دى حضرت عمار ابن ياسر ❼ فرمايي چې زه د صهيب ❼ سره د دارلارقم په دروازه کې مخامخ شوم پوښتنه مې ترې وکړه ته دلته څه کوې؟ هغه رانه پوښتنه وکوله چې ته څه کوې؟ ما ورته وويل چې زه ورتلل غواړم آورېدل غواړم چې محمد څه وايي ده راته وويل چې زه هم همدا غواړم چې مونږ ورغلو رسول ﷲ ☸ مونږ ته اسلام را وړاندې کړو مونږ دواړه مسلمانان شوو او تر ماښام پورې هلته پاتې شوو او چې کله تياره شوه نو بيا را ووتلو او پدې وخت کې د مسلمانانو شمېره د دېرشو او څلوېښتو په مينځ کې وه .



په رسول ﷲ ☸ چې اول وحى راتلل شروع شول ښه خوبونه وو.



په قران کریم کې اول سورت چې نازل شوی دی سورة علق دی .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمړی واده

د رسول الله ﷺ په بیبیانو کې اول حضرت خدیجه وه چې رسول الله ﷺ ورسره واده وکولو کله چې رسول الله ﷺ د پنځه ویشتو کلونو وو د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها د تجارت د مال سره یې دهغې لپاره یو سفر وکولو د شام ملکونو ته او ددې تجارت نه رسول الله ﷺ خدیجې ته داسې ګټه راوړه چې دې به مخکې داسې ګټه نه کوله په پوره خیر او سلامتګی سره بېرته مکې مکرمې ته را ستون شو او په پوره امانت سره یې خدیجې رضی الله تعالی عنها دهغې دمال ګټه او سرمایه وسپارله د حضرت خدیجې رضی الله عنها په زړه کې له مخکې نه د رسول الله مینې ځای نیولی وو چې دده د ښو اخلاقو او امانت قصې به یې آورېدلې خو ددې سفر نه وروسته یې لا په زړه کې مینه ورسره پیدا شوه او په عین حال کې د مکې مشرانو او ساداتو د حضرت خدیجې رضی الله عنها څخه د واده غوښتنه کوله خو لکن دې مبارکې به تولو ته انکار کولو خو

د رسول الله ﷺ سره یې واده ته د نه ویلو وجه پیدا نه کړه نو د خپلې ملګرې نفیسه بنت منیة سره یې دا د زړه راز شریک کړو نفیسه راغله رسول الله ﷺ ته یې د خدیجې سره د واده خبره وکوله او پوښتنه یې ترې وکوله چې ته ولې واده نه کوې؟ رسول الله ﷺ ورته و فرمایل زما په لاس کې څه نشته چې زه وربانديې واده وکوم .. هغې ورته وویل چې که یو څوک تا د داسې چا واده ته ور وغواړي چې هغه خپله دولت ولري ښائسته وي او ستا پکې دولت ته ضرورت نه وي نو بیا؟ رسول الله ﷺ ورته ویل چې مطلب دې څوک دي؟ هغې ورته وویل چې خدیجه .. رسول الله ﷺ ورته ویل چې دا به څنګه کیږي؟ نفیسه ورته ویل چې زه به یې وکوم نو رسول الله ﷺ ورته ویل چې زه ورته تیار یم .. نفیسه راغله او حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها ته یې زیری ورکړو چې ستا کار وشو حضرت خدیجه خپل تره عمرو بن اسد ته راغله ورته یې وویل چې د محمد سره زما واده وکوه حضرت رسول الله ﷺ د عبد المطلب د کورنی له خلکو سره د خدیجې رضی الله عنها کور ته راغلل په دله کې ورسره حضرت حمزه 7 او تره یې ابو طالب وو او په استقبال

کې ورته د خديجې رضی الله عنها تره
عمرو بن اسد او د تره زوی ورقه بن
نوفل ولاړ وو حضرت خديجه يې حضرت
رسول الله ☸ ته ورکړه واده يې پرې جوړ
کړو او واده يې کړه بيا چې تر څو
پورې خديجه رضی الله تعالی عنها ژوندۍ
وه رسول الله ☸ ورباندې بل واده نه وو
کړی

ددې په فضيلت کې رسول الله ☸ فرمايي چې
دې په ما باندې ايمان راوړو هغه وخت
چې خلکو په ما باندې کفر وکولو، دې
زما تصديق په داسې وخت کې وکولو چې
خلکو زما تکذيب کولو، دې ماته هغه
وخت د خپل مال نه فايده راکړه چې ز ه
خلکو محروم کړم دې ماته اولاد راکړو
چې نورو بيبيانو رانه کړو .



د اهل بيتو نه په رسول الله ☸ پسې تر
ټولو نه اول پيوست کيدونکې حضرت
فاطمه رضی الله عنها وه پدې کې اختلاف دی
چې د رسو ل الله ☸ نه څومره وخت وو خو
راجح خبره داده چې ۹۵ ورځې وې .



په بيبيانو کې د رسول الله ☸ د وفات نه
وروسته اول وفات کېدونکې حضرت زينب

بنت جحش رضی الله عنها وه دا د هجرت په ۲۰ کال وفات شوه د حضرت عمر ❼ د خلافت دوره وه او په جنة البقیع کې خاورو ته و سپارل شوه

د الله په لاره کې لمړی غیشی

د الله ⮝ په لاره کې اول غیشی حضرت سعد بن مالک رضی لله عنه وار کړی دی .

حضرت سعد ❼ له هغه صحابه وو څخه دی چې په اول کې یې ایمان راوړی دی او له هغو لسو صحابه وو څخه دی چې د جنت زیری ورکړل شوی وو او دا اول غیشی ده په هغه سریه کې وار کړی دی چې د اول ځل لپاره رسول الله ☸ لېږلې وه او شپیته کسان صحابه وو پکې او د قریشو قافلې ته یې لاره نیولې وه او پدې سریه کې مخامخ جنګ ونشو صرف د غشو تبادله وه او د اسلام له لوري اول غشی حضرت سعد ❼ وار کړی وي . (ددې سریې واقعه په بخاري شریف کې ده) .

په اسلام کې اول موذن

په اسلام کې اول موذن حضرت بلال بن رباح ❼ وو او هروخت به په سفر او په حضر کې د رسول الله ☸ ملګری وو کله چې رسول الله ☸ وفات شو جهاد ته یې ملا

وتېرله او شام ته لاړو او هلته تر آخر د خپل عمر پورې پاتې شو چې کله حضرت عمر ❼ شام ته لاړو هلته ده اذان وکړو حضرت عمر ❼ دهغه ورځې نه چا زيات په ژړا نه دی ليدلی چې کله يې دده مبارک اذان واورېدو .

لمړی په زوره تلاوت کونکی صحابي

حضرت عبد الله بن مسعود ❼ اول هغه کس وو چې په مکه مکرمه کې يې په جهر سره قران کريم وويلو .

حضرت عبد الله ابن مسعود د عقبه بن ابي معيط مال څرولو چې رسول الله ﷺ له ابو بکر صديق ❼ سره بهر ته وتلی وو حضرت عبد الله بن مسعود يې وليدو چې مال څروي شودې يې ترې وغوښتې چې شته او کنه؟ بيا رسول الله ترينه يوه وچه ميږه وغوښته حضرت ابن مسعود يوه وچه مېږه ورته حواله کړه چې شوده يې نه کولې رسول الله ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو دهغې غولانځه و موښله او څه کلمات يې وويل په هغې کې شودې را پيدا شوې؟ ويې

لوشله شودي يې ترې وڅښلې او بيا يې د
مېږې تې ته وويل اقلص بيا په هغې
کې شودې بېرته وچې شوې حضرت عبد الله
ابن مسعود ❼ راغلو رسول الله ☸ ته يې
وويل چې دا کلمې ماته هم را وښايه
هغه ورته مسکی شو او دهغه په سر او
سينه يې لاس را کش کړو او ترې روان شو
د حضرت عبد الله ابن مسعود په زړه کې
انوار را خپاره شول چې رمه يې راوسته
سيده راغلو مکې ته رسول الله ☸ يې پيدا
کړو او په هماغه ځای مسلمان شو دده
سره د مسلمانانو شمېره شپږ کسان شول
يوه ورځ د رسول الله ☸ صحابه ناست وو په
خپل مينځ کې يې وويل چې د مکې
مشرکانو لا تراوسه قران کريم اورېدلی
هم نه دی چې څنګه دی څوک به يې ورته
ور واوري پدې کې حضرت عبد الله ابن
مسعود ❼ را پاڅېدو ويل زه يې ورته
ور آوروم نورو صحابه وو ورته وويل
چې نه داسې څوک چې وای چې قبيله يې
لرلی بيا دوی ترېنه ډارېدل ده وويل
څه زما سره الله شته د څاښت وخت وو چې
را بهر شو د مکې سره کېناستو او په
تلاوت يې شروع وکوله سورت الرحمن يې
شروع کړو او په ډېر خواږه اواز يې
ويل پدې کې خلک را تول شول يو بل ته
يې حيران حيران کتل چې دا څه وايې

يو كس وويل چې دا لكه چې هغه څه
وايي چې په محمد نازل شوي دي نو يې
پرې د وهلو شروع وكوله ده بيا هم خپل
تلاوت ونه درولو او تر كومه وخته چې
ممكنه وه خپل تلاوت يې روان وساتلو .



حضرت ابو سنان الاسدي ❼ اول هغه كس وو
چې په بيعة الرضوان كې يې له رسول الله
☸ سره بيعت وكولو .



حضرت نسيبة بنت كعب او اسماء بنت عمر
بن سلمة رضى الله عنهما هغه ښځې وې چې
اول يې له رسول الله ☸ سره په ښځو كې
بيعت كړى وو.

په اسلام كې اول سفير

په اسلام كې اول سفير حضرت مصعب ابن
عمير ❼ وو او رسول الله ☸ مديني منوري
ته د سفير په توګه را لېږلى وو دلته
يې خلكو ته ددين درس وركولو او خلك
يې د الله ▲ دين ته را بلل او تول هغه
كارونه يې كول د كومو چې ورته د رسول
الله صلى الله عليه له لوري نه امر شوى وو.



مدینې منورې ته په ښځو کې اول هجرت کونکې ښځه حضرت ام سلمة بنت ابي امية ده .

لمړی هغه مسلمانه چې یهودي یې وژلی

اوله هغه مسلمانه ښځه چې یهودي یې قتل کړی دی حضرت صفیة بنت عبد المطلب وه او د ښځو په تاریخ کې بیا داسې ځوانمردي بیا کومې ښځې نه ده کړې لکه دې مبارکې چې د خندق په غزا کې کړېده کله چې رسول الله ﷺ د خپلو صحابه وو سره د خندق غزا ته وړاندې شو نو بیبیانې یې په یو ځای کې کېنولې چې ورته یې فارغ ویل او حضرت حسان ❼ چې په دې وخت کې د شپېتو کلونو څخه آوښتی وو ددې ښځو سره پرېښودو له بلې خوا نه یهودیانو فکر وکاوه چې رسول الله او صحابه خو په جنګ دي له ښځو سره څوک نشته نو پر دوی یې د تیري کولو پلان جوړ کړو او یو یهودي چې قلا ته د ننه خپله غاړه ور اوږده کړه او کتل یې غوښتل چې څوک نارینه خو به ورسره نه وي چې دفاع وکوي حضرت صفیه رضی الله تعالی عنها فرمایي چې ما په سر باندې داسې ووهلو چې سر یې زمونږ خواته را ولویدو دې مبارکې هغه سر را واخستو

او بېرته يې تر قلا هاغه خواته د ده نورو ملګرو ته ور وار کړو هغوی چې دا وليدو په خپلو کې يې سره وويل چې مونږ ويل چې هغوی زنانه يوازې نه پرېږدي او بېرته و تښتېدل .

په جنة البقيع کې لمړی دفن شوی مهاجر صحابي

په جنة البقيع کې اول مهاجر صحابي چې دفن شو هغه حضرت عثمان ابن مظعون 7 وو . حضرت عثمان د جاهليت په زمانه کې د مکې مکرمې د مخورو خلکو له جملې نه وو او آن پخوا لدې چې اسلام راوړي د ښو او نيکو خويونو مالک وو او د شرابو په اړه به يې ويل چې زه ولې داسې شی و څښم چې هغه زما عقل له مينځه يوسي او تر ما ښکته خلک پر ما پورې وخندوي او ايمان يې هغه وخت راوړو کله چې دی ، عبيدة بن حارث بن عبد المطلب، عبد الرحمن ابن عوف، ابو سلمة بن عبد الاسد، ابو عبيدة بن الجراح په شريکه رسول الله ﷺ ته راغلل رسول الله ﷺ ورته اسلام او د اسلام احکام وړاندې کړل دوی ټول په يو ځای مسلمانان شول رضی الله تعالی عنهم او دا هغه وخت وو چې لا تر اوسه پورې رسول الله ﷺ دار الارقم ته نه وو نقل شوی

په اسلام کې يې ښې قربانى ورکړې او چې کله مدينې منورې ته مسلمانان مهاجر شول دى هلته بيمار او بيا وفات شو حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها فرمايي چې کله حضرت عثمان بن مظعون ❼ وفات وو ما رسول الله ☸ وليدلو چې هغه يې ښکلولو او درسول الله ☸ اوښکې د حضرت عثمان په مخ ور تويې شوې . حضرت عبد الله بن رافع ❼ فرمايي چې حضرت عثمان اول هغه کس وو چې په جنة البقيع کې خښ کړل شو رسول الله ☸ يې د قبر سر ته (د نښې لپاره) يو کانى کېښودو .



په مدينه منوره کې اول امامت کونکى حضرت مصعب بن زبير ❼ وو.

د روميانو سره د مسلمانانو لمړى جګړه

د روميانو سره د مسلمانانو لمړى جنګ غزوه موته وه چې رسول الله ☸ حضرت حارث بن عمر الازدي دخپل رسول په توګه د بصرى ملک خواته ور ولېږلو او هغه ته يې د اسلام لوري ته بلنه ورکړه هغه ته چې کله د رسول الله ☸ استازى ور ورسيدو هغه يې په شهادت

ورسولو رسول الله ﷺ د هغه په خلاف د جنګ اعلان وکولو او خلکو ته يې د راوتلو اواز وکولو په لږ وخت کې د رسول الله ﷺ سره د درې زره کسانو جنګياليو ډله برابره شوه او رسول الله ﷺ ددې په سر حضرت زيد ابن حارث مقرر کړو او ورته يې وفرمايل که ده ته څه صدمه ورسيده نو بيا به جعفر ابن ابي طالب ستاسې مشر وي او که هغه ته څه وشول نو بيا به عبد الله بن رواحه رضى الله تعالى عنهم ستاسې مشري کوي دا د هجرت آتم کال وو د جُمعې ورځ وه چې خلکو تيارى وکولو او د سفر په لوري را ووتل پاتې مسلمانانو ورته په مينه سره خداى په اماني وويله او د الله ﷻ نه يې ورته بېرته د په خير سره د کاميابې سره د را ګرځولو دعا و غوښتله مسلمانان روان شول تردې چې معان ته ورسېدل (يو ځاى دى) هلته ورته دا خبر راورسېدو چې روم يو لک کسان خپل جنګيالي را ويستلي دي او ورسره يې يو لک نور د عربو قبيلو څخه را تول کړل نو د دوه لکو کسانو لښکر سره ورته را مخې ته شو کله چې دا خبر مسلمانانو ته را ورسيدو مجلس يې جوړ کړو مشوره يې وکوله ځينو پکې وويل چې مونږ به رسول الله ﷺ ته خط وليکو او هغه

به د دښمن په عدد باندې خبر کړو هغه به یا مونږ ته نور کسان را ولیږي او یا به څه هدایت وکوي او په هغه به عمل وکوو پدې کې حضرت عبد الله بن رواحة ❼ پا څېدو ویل یې ای خلکو مونږ ددې لپاره راغلی یو چې د الله ددې دین لپاره جنګ وکوو چې په کوم یې مونږ ته له خلکو نه عزت راکړی دی راځئ چې ورمخې ته شو په دوه خیرونو کې به یو کار را پېښ شي یا خوبه الله ⮝ راته کامیابي راکړي او یا خوبه الله ⮝ راته شهادت راکړي خلکو ټولو وویل چې الله رښتیا ویلي او رواحة هم رښتیا وویل او د همدې سره مسلمانان روان شول ور مخې ته شول چې ترڅو بلقاء سیمې ته ورسېدل هغوی هم را روان وو چې یوې علاقې ته ورسېدل چې مشارف ورته وایي دښمن را نېږدې شو مسلمانان د موته سیمې ته چې اوس ورته کرک وایي وړاندې شول مسلمانانو خپل لښکر د جنګ لپاره تیار کړو د جنګ په ښې وزر کې یې مشري حضرت قتادة د عذرة قبیلې یو کس ته ورکړه او د چپ طرف مشري یې حضرت عبایة بن مالک انصاري ته ورکړه لښکر سره مخامخ شول او ښه په میړانه و جنګېدل او سخت جنګ وشو حضرت زید بن حارثه ❼ د مسلمانانو

لمړی امیر په شهادت ورسید حضرت جعفر بن ابي طالب ❼ را وړاندي شو جنډه یې پورته کړه اوپه ډېره میړانه سره یې دا شعرونه وویل :

یا حبذا الجنة و اقترابها

طيبة و بارد شرابها

و الروم روم قد دنا عذابها

كافرة بعيدة انسابها

على ان لاقيتها ضرابها

په جنګ کې یې ښی لاس پرې کړل شو جنډه یې په چپ لاس کې پورته کړه چې چپ لاس یې هم پرې شو تر ورمېږ لاندې یې جنډه نیولې وه خو ښکته کېدو ته یې نه پرېښوده تردې چې په بل وار کې شهید کړل شو الله ﷻ به ددې دوو لاسونو په بدل کې ده ته په جنت کې دوه وزرونه ورکوي چې وربانديي آلوزي به هر طرف ته چې دده خوښه وي .

ددېنه وروسته حضرت عبد الله بن رواحة ❼ جنډه را پورته کړه تردې پورې چې هغه هم شهید حضرت ثابت بن ارقم ❼ جنډه را پورته کړه او اواز یې وکولو چې ای مسلمانانو یو څوک د امارت لپاره غوره کړئ مسلمانانو ورته وویل چې همدا

ته مو امير يې هغه وويل چې زه يې نشم کولی نو بيا په حضرت خالد بن وليد ❼ باندې مشوره وشوه هغه چې څنګه امير شو لښکر يې بدل را بدل کړو د چپ لاس کسان يې ښي طرف ته او د ښي طرف کسان يې چپ طرف ته کړل کفارو فکر وکاوه چې د مسلمانانو د مدد لپاره نوي کسان راغلل نو دهغوی په زړونو کې الله ▲ ماتې ور ګډه کړه او شکست يې وخوړو خو حضرت خالد بن وليد ❼ په دوی پسې شاته ورنغلو او بيرته له همدې ځای نه مدينې منورې ته را وګرځېدل .

د روميانو سره د مسلمانانو د ا لمړی غزا وه چې د د ۳۰۰۰ کسانو مسلمانانو د دوه لکه کافرانو سره مقابله وه د پوره صبر او استقامت جنګ وو او همدا جنګ وو چې حضرت خالد بن وليد ❼ پکې د لمړي ځل لپاره جنګې امير وو.

په مدينه منوره کې لمړی نازل شوی سورة

په مدينه منوره کې اول نازل شوی سورت ويل للمطففين دی کله چې رسول الله ☸ مدينې منورې ته راغلو نو دلته په خلکو کې د تول او دکان داري نظام ډېر زيات خراب وو صرف لکه قمار داسې وو

صرف د یو بل نه د پیسو ګټل وو او داسې کسان هم وو چې دوه پیمانې به یې ساتلې لکه چې وایې پدې وخت کې د ابو جهینه په نوم کس وو چې هغه دوې پیمانې ساتلې او له چا نه به یې چې څه اخستل نو په یوه پیمانه به یې اندازه کول او چې کله به یې خرڅول نو په بله پیمانه به یې اندازه کول او ورکول به یې نو ﷲ ﷻ دا سورت نازل کړو چې پدې کې د هغه کسانو ته له عذاب نه ویره ورکړل شوې چې په تول او وزن کې خیانت کوي .

د فارس نه لمړی مسلمان حضرت سلمان فارسي

حضرت سلمان فارسي ❼ اول هغه صحابي دی چې د فارس د خلکو نه په ایمان مشرف شوی دی دا د ایران د اصفهان وو جلیل القدر صحابي دی او په اسلام کې هغه وخت داخل شو چې د حق او حقیقت پوره څېړنه یې وکوله او د دین او مذهب په اړه یې لټون کاوه په فارس کې یې د ډېرو مشرانو بت پرستانو سره کتنه وکوله خو هغوی دی بت پرستي ته قانع نشوای کړلی د شام ملکونو ته په همدې لټون کې راغلو د راهبانو سره یې وکتل خو دهغوی خبرو هم ده ته قناعت ورنشو

کړلی او په همدې لتون کې جزیرة العرب ته راغلو او د رسول الله ☸ سره یې ملاقات وشو او همدلته یې خپل اسلام ښکاره کړو او د اسلام لپاره یې ډېرې قربانی ورکړې دي او په غزوه خندق کې کله چې په مسلمانانو باندې د مدینې منورې د ساتلو لپاره بله لاره نه وه نو د خندق نظریه هم حضرت سلمان ❼ وړاندې کړې وه او دا به د حضرت ابو الدداء ❼ سره په یوه کور کې اوسېدو هغه به یې لیدلو چې ډېر مونځ او ډېرې روژې به یې نیولې نو یې هغه ته وویل چې هرڅه لږ په اندازه سره کوه هغه ورته وویل چې آیا ته ما اوس ددېنه منع کوې چې زه الله ته مونځ و کوم او الله ⮝ ته روژه ونیسم؟ ده ❼ ورته وویل چې ستا د سترګو هم په تا حق شته ، ستا د ځان هم په تا حق شته، او ستا د کور واله هم په تا باندې حق شته روژه هم نیسه او کله یې ماتوه هم کله مونځ کوه او کله ویده کېږه دا خبره چې رسول الله ☸ ته ورسېده هغه ☸ و فرمایل چې سلمان فارسي په علم ځان موړ کړی دی .

حضرت سلمان ❼ به د امارت نه ډېره زیاته کرکه کوله او ویل به یې که دې په وس پوره وه چې خاورې وخورې نو ښه

ده ددېنه چې د دوو کسانو په سر باندې امير شي او کله چې دی په المدائن باندې امير وو نو يو شامي را روان وو چې ورسره بار وو د خورما او انځرو نو څوک يې پيدا نه کړل په لاره کې يې حضرت سلمان فارسي د فقر او عاجزي په جامه کې وليدو ورته يې وويل چې دا بار خو لږ را سره واخله هغه ورسره واخيست چې لږ مخکې لاړل خلکو ورباندې سلام واچولو او ويې ويل په امير دې سلام وي شامي انسان په فکر کې شو چې کوم امير به يادوي؟ او چې کله خلکو وليدلو چې دوی ته يې منډې را وهلې او حضرت سلمان رضی الله عنه ته يې ويل چې دا با رمونږ ته راکړه نو دی پوه شو چې دا خو امير المدائن حضرت سلمان فارسي دی بيا يې ترينه د هغه پيټي اخستلو کوښښ وکولو لکن ده تري انکار وکولو او ويل يې چې زه به تا خپل ځای ته رسوم .

حضرت سلمان ته يو شی ډېر ګران وو چې خپلې بي بي ته يې امانت ورکړي وو په کومه ورځ چې وفات کېدو د هغه نه وړاندې يې خپلې بي بي ته وويل چې هغه شی راوړه چې ما درته امانت در کړي دي چې بي بي را خلاص کړل ويې ليدل چې هغه د مسکو يو هغه شی وو چې مسک پکې

پراته وي او ده ته د فتح جلولاء په ورځ ورکړل شوي وو او ده د خپل مرګ د ورځې لپاره ساتلي وو نو بي بي ته يې په هغه سهار وويل چې کله دی وفات کېدو چې دلته ددې مسکو ښه بوی زما په شاوخوا کې خپور کړه او اوس دلته داسې خلک راځي چې هغوی خوراک نه کوي او ښه بوی هغوی ته ډېر خوند ورکوي کور واله يې شاوخواته مسک خپاره کړل او بيا يې بي بي ته وويل چې ته ما اوس پرېږده ته لاړه شه لږ ساعت وروسته به راشي چې کله بي بي ورغله نو دهغه ساه مبارکه ختلې وه ❼ دده مبارک په اړه رسو ل الله ﷺ فرمايي (حضرت سلمان زمونږ د کورنۍ څنې دی)

دمسلمانانو او فارسيانو په مينځ کې لمړی جګړه

د مسلمانانو او فارسيانو په مينځ کې لمړی جنګ د غزوة القادسية دی د حضرت عمر ❼ په زمانه کې شوی دی چې د هجرت په پنځلسم کال د شعبان دمياشتې په ۱۳ مه نيټه وو د مسلمانو له لوري نه قائد سعد بن ابي وقاص ❼ وو او د فارسيانو له لوري نه فرخزاد وو او د

قادسیه په سیمه کې جنګ د مسلمانانو په کامیابی او د فارسیانو په شرمندګی باندې پای ته ورسید .

د جزیرة العرب نه د یهودیانو شړل

حضرت عمر رضی الله تعالی اول هغه کس دی چې یهود یې د جزیرة العرب نه د شام علاقو ته شړلي دي کله چې رسول الله ﷺ وفات شو د حضرت ابو بکر صدیق ❼ په سر ډیر کارونه وو خو چې کله د حضرت عمر ❼ دور شو هغه یهودیانو ته وویل چې تاسې به د جزیرة العرب نه ورک شئ خلکو ورته وویل چې په دوی کې د کار خلک دي او طبیبان دي هغوی زمونږ په کار کیږي بیا حضرت عمر ❼ دوی ته اجازه ورکړه چې د تجارت په نیت دوی حجاز ته راتلی شي خو په یو ځای به نه پاتې کیږي او نه به حصاریږي .

په کوفه کې اول دفن کېدونکی صحابي

حضرت خباب بن الارت ❼ اول هغه صحابي دی چې په کوفه کې دفن شوی دی دا هغه کس وو چې په مکه مکرمه کې یې توري جوړولې او کله چې په اسلام باندې مشرف

شو پدې ورځ باندې خپل کار ته راغلو
او خلکو يې انتظار کولو چې کله
راغلو خلکو ترينه د خپل کار پوښتنه
کوله چې زمونږ کار شوی او کنه توري
دې جوړې کړي او کنه ده له ځان سره
وويل (يره څه عجيبه وو) چا تري
پوښتنه وکوله چې څه عجيبه وو؟ ده
ورته وويل چې تاسې ليدلی دی؟ تاسې
دهغه خبرې آورېدلې دي ؟ او بيا يې
له ځان سره وويل هو ! ما وليدو ما
يې خبرې واورېدلې .. له څنګونو څخه
يې د حق شغلې را پورته کېدلې له خولې
نه يې نور بادېدو .. يو کس ورته په
بده لهجه او غصه کې وويل فکر کوم چې
ته محمد يادوې ... ده مبارک ❼ وويل
هو زه محمد يادوم هماغه ددې لپاره
راغلی دی چې مونږ د جهل د تيارو څخه
د رڼا خواته و باسي .

همدا حضرت خباب رضی الله عنه وو چې د
اسلام د دين د خدمت نه يې هيڅ مال او
ځان نه دی ساتلی په کوفه کې بيمار
شو او په مرض موت کې ورته خلک راغلي
وو ده هغه کفن ته کتل چې ور ته تيار
کړل شوی وو او په ژړا کې يې ويل چې
ماته داسې ښه کفن تيار کړل شوی دی او
چې کله په احد کې د رسول الله ﷺ تره
شهيد شو هغه ته کفن نه وو رسېدلی صرف

يو څادر وو چې په هغه باندې مو هموار کړو .

حضرت خباب بن الارت بيا همدلته په کوفه کې وفات شو او دا په کوفه کې لمړی صحابي وو چې دفن شو .

په مسجد نبوي کې شګې اچول

حضرت عمر ❼ هغه اول کس وو چې په مسجد نبوي کې يې شګې هموارې کړې کله به چې خلک له سجدې نه پورته شول نو لاسونه به يې له خاورې نه څنډل بيا حضرت عمر ❼ ددې امر وکړو چې له عقيق نه به شګې راوړو او په جومات کې به يې هموارې کړو .



په کور کې اول جومات حضرت عمار ابن ياسر ❼ جوړ کړی وو مونځ به يې پکې کول .

په زمکه باندې لمړی ونه

په زمکه باندې لمړی ونه د خورما ده او د حضرت آدم د جوړښت څخه وروسته د پاتې ختې نه جوړه کړل شوېده ددې وجې نه د انسان عمه ورته ويل کيږي او په شکل کې هم په نسبت سره نورو

ونو ته د انسان سره دا زياته مشابه وي چې اوچت قد لري که سر ترې پرې کړل شي نو مړه کيږي (وچيږي) بدن يې خالي نه وي لکه د نورو ونو بلکې وربانديې وېښته شان ته شيان وي مذکر او مونث لري د باد په وسيله بانديې مونث له مذکرو ونو څخه حمل اخلي او عجيبه داده چې بيماره کيږي لکه انسان غمجنه کيږي بيا يې ساتونکی ګروي په وسپنه سره او لکه دانسان په څېر مينه کوي يوه ونه بلې ته مائله شي بيا يې ميوه کميږي بله عجيبه خبره پکې داده چې دا کله له حمل نه پاتې کيږي او ميوه نه کوي او خلکو به يې علاج داسې کولو او اوس هم د باغونو مالکان ورسره داسې کوي چې تبر يوسي او بل کس ورسره وي هغه کس ته وايي چې دا ونه زه پرې کوم ځکه دا ميوه نه کوي هغه وايي چې نه مه يې پرې کوه دا سږ کال ميوه کوي او د باغ مالک بيا تبر راواخلي درې واره په ونه وکوي او هغه بل کس يې لاس ونيسي او قسم ورته وکوي چې مه يې پرې کوه سږ کال به دا ميوه کوي صرف سږ کال هم ورته صبر وکوه پدې کال کې بيا دا ښه ميوه وکوي .

په اسلام کې لمړی شاعر

په اسلام کې اول وتلی شاعر حضرت حسان بن ثابت ❼ دی شه د شعر ملکه ورسره وه د اسلام نه وړاندې به یې بادشاهانو ته قصیدې ویلې چې کله مسلمان شو د هجرت نه وروسته د رسول الله ☸ شاعر شو او د حضرت علی ❼ په دور کې د ۳۵ او څلوېښت هجرې په مینځ کې وفات شو.



په اسلام کې لمړی مسجد چې له مدینې منورې نه بهر جوړ شوی دی هغه مسجد معاذ بن جبل وو په یمن کې جوړ شو.



حضرت رسول الله ☸ فرمایلي دي چې ابوبکر صدیق به هغه کس وي چې زما په امت کې به اول جنت ته ننوزي. (تاریخ الخلفاء)



په اسلام کې اول بیرغ د حضرت عبد الله بن جحش بیرغ وو.



حضرت ابو بکر صدیق ❼ وو چې د لمړي ځل لپاره یې د قران کریم په راټولولو باندې حکم کړی وو.



حضرت عمر ❼ وو چې قران کريم يې د کتاب په شکل کې را تول کړو .



حضرت عمر ❼ وو چې خلک يې د تراويح په جمع باندې را تول کړل .



حضرت عمر ❼ وو چې د رسول الله ☸ د وفات نه وروسته يې په امهات المومنين باندې حج وکړو.



حضرت عمر ❼ وو چې د اول ځل لپاره يې قاضيان مقرر کړل.



حضرت عمر ❼ وو چې د اول ځل لپاره امير المومنين لقب ورکړل شو .



حضرت عمر ❼ وو چې د اول ځل لپاره يې هجري تاريخ رسمي تاريخ کړو .



حضرت عمر ❼ وو چې د اول ځل لپاره يې په اسلام کې د بيت المال سيستم جوړ کړو.



حضرت علی ❼ وو چې په اسلام کې يې د اول ځل لپاره بنديخانې جوړې کړې .



حضرت علی ❼ وو چې د اول ځل لپاره يې د پوليسو سيستم جوړ کړو .



په اسلام کې اول بحري جنګ معركة الذات الصواري وه .



په مصر کې لمړی مسجد مسجد عمرو بن العاص ❼ وو.

لمړی جومات چې مناره ورته جوړه شوه

لمړی هغه مسجد چې مناره ورته جوړه شوه هغه مسجد د امويانو په دور کې جوړ شو د المسجد الاموي په نوم چې عبد الملک بن مروان په ٧٠٨ کال کې په دمشق کې جوړ کړو.



په مسجد کې محراب د اول ځل لپاره حضرت معاویه بن سفیان جوړ کړی دی .



هغه کس چې اول یې د علم النجوم، علم الطب او کېمیا کتابونه عربي ته ترجمه کړي دي هغه خالد بن یزید بن معاویه بن ابي سفیان وو.



اول هغه کس چې قانون یې جوړ کړو هغه ولید بن عبد الملک وو .



ابو جعفر منصور هغه اولنی خلیفه وو چې عربي ته یې د کتابونو په ترجمه کولو باندې امر وکړو.



عبد الملک بن مروان وو چې د اول ځل لپاره یې د ظلمونو محکمه جوړه کړه



خلیل بن احمد الفراهیدي وو چې د اول ځل لپاره یې د علم عروض بنیاد کېښودو.



اليعقوبي وو چې د اول ځل لپاره يې په تاريخ کې د مسلمانانو په اړه ليکل وکول.



حضرت امام عبد الله بن ادريس الشافعي رحمه الله وو چې د لمړي ځل لپاره يې په اصول فقه کې کتاب وليکلو .



حضرت زبير رحمه الله وو چې په ۹۳ هجري کال کې وفات شو په سيرت النبي کې يې لمړی کتاب وليکلو .



لاس ورکول په ستړي مشي کې اول په يمن کې رواج شول .



حضرت معاويه بن ابي سفيان وو چې د خطونو د ليږلو او ډاکخاني سيستم يې جوړ کړو .



د موذن لپاره اول تنخوا حضرت عثمان مقرره کړيده .



د رسول ﷲ ☸ په بیبیانو کې حضرت زینب بنت جحش وه چې نکاح یې په اسمان کې تړل شوې وه .



هغه سبزي کدو ده چې رسول ﷲ ☸ په لوښي کې پسې لاس ګرځولو او خوړلو یې.

هغه دوې پیالې چې رسول ﷲ به پکې اوبه څښلې یوه د لرګې او بله د ګچ نه جوړه وه .



هغه صحابي حضرت ابو طلحه ❼ دی چې د رسول ﷲ ☸ قبر یې کیندلی دی او قبر یې هم ورته لحد جوړ کړی دی .

هغه صحابي چې د رسول ﷲ امامت یې هم کړی دی

هغه صحابي حضرت ابو بکر صدیق ❼ دی چې رسول ﷲ ☸ ته یې هم مونځ ورکړی دی .

په تفسیر عزیزي دیرشمه سپاره د سورة اللیل په تفسیر کې لیکلي دي چې حضرت ابو بکر صدیق ❼ په داسې حالت کې د رسول ﷲ ☸ په خدمت کې حاضر شو چې د کوټ یا کورتی پر ځای یې په ځان باندې یوه زړه

کمپل را تاو کړي وه اود بتنو په ځای یې
اغزي پکې د تینګولو لپاره لګولي وو نو
جبرائیل ⌨ راغی او د رسول الله ☸ نه یې
پوښتنه وکوله چې د ابو بکر حال ولي
داسې شو چې د ښه مال او دولت سره سره
په غریبانه جامه باندې پوښل شوی دی؟
رسول الله ☸ ورته و فرمایل چې ده هرڅه
شتمني په ما باندې او د الله ⮝ په لاره
کې مصرف کړه اوس بې وسې دی حضرت
جبرئیل ⌨ رسول الله ☸ ته وویل چې الله
⮝ په ده سلام وایي .



د رسول الله ☸ په امت کې د خلیفه لقب
اول حضرت ابو بکر صدیق ❼ ته ورکړل
شوی دی .



حضرت علی رضی الله عنه، حضرت عباس، حضرت
قثم ، حضرت فضل (دواړه د حضرت عباس
صاحب زامن دي) رضی الله تعالی عنهم هغه
کسان دي چې رسول الله ☸ یې په قبر کې
کېښودو.



کله چې د رسو ل الله ☸ دفن مکمل شو حضرت
بلال ❼ هغه صحابي وو چې په قبر باندې

يې اوبه و شيندلې او د سر خوانه يې شروع وکوله او پښو خواته يې يو مشک اوبه پرې وشيندلې .



هغه مبارک او بختور صحابي حضرت سهل بن بيضاء وو چې رسول الله ☸ يې په مسجد نبوي کې جنازه اداء کړه . (ترمذي)



هغه صحابي حضرت عبد الله ذو البجادتين وو چې رسول الله ☸ په خپل لاس باندې دفن کړو .



هغه بد بخت کافر ابي خلف وو چې رسول الله ☸ په خپل لاس په هغه باندې د نيزې وار وکولو او هغه د همدې وار نه مړ شو . (بخاري شريف)



رسول الله ☸ ځلور ځله جبرائيل ⌨ په خپل شکل کې ليدلی دی .

۱. چې کله رسول الله ☸ په غار حراء کې وو نو جبرائيل ⌨ راغلو رسول الله ☸ ترې

غوښتنه وکوله چې ماته خپل شکل را ښکاره کړه .

۲. د معراج په شپه په سدرة المنتهی کې .

۳. په مکه مکرمه کې د اجیاد په ځای کې .

٤. هغه وخت چې حضرت حمزه ❼ د رسول الله ☸ نه غوښتنه وکوله چې زه جبرائیل ⌨ کتل غواړم هغه ورته ووي چې ته یې نشې لیدلی ده ❼ وویل چې زه یې کتل غواړم رسول الله ☸ ورته و فرمایل چې کینه هغه کېناستلو او جبرائیل ⌨ په کعبه باندې را ښکته شو رسول الله ☸ ورته و فرمایل چې اوس پورته ورته وګوره د جبرائیل ⌨ بدن لکه د شنو زبرجدو په شان وو رڼا یې کوله ځلېدونکی وو حضرت حمزه ❼ یې په لیدلو سره بې هوښه شو . (طبقات ابن سعد بروایة عمار ابن یاسر)



په انبیاوو کې ذوالهجرتین د حضرت ابراهیم ⌨ لقب دی یو ځل یې د عراق نه کوفې ته هجرت کړی دی او بیا یې د کوفې نه شام ته هجرت کړی دی .



روح الامین د حضرت جبرائیل ⌨ لقب دی
په قران کریم کې ورته یاد کړل شوی دی
نزل به الروح الامین .



هاذم اللذات د ملک الموت لقب دی .



خاتم المهاجرین د حضرت عباس ❼ لقب دی
چې په یو قول باندې دا په تولو کې
وروستنی کس وو چې مدینې ته یې هجرت
وکړو .

ذو شهادتین صحابي

رسول الله ☸ د یو کوچي (سواد بن الحرث
المحاربي) نه آس (نوم یې المرتجز وو)
واخستو رسول الله ☸ د پیسو را اخستلو
لپاره کور ته راغلو پدې وخت کې نور
کسان راغلل له هغه کس نه یې آس په
قیمته و غوښتلو او اعرابي اوس آس په
هغوی باندې خرخول غوښتل پدې کې رسول
الله ☸ را ووتلو هغه اعرابي ته یې وویل
چې تا خو دا آس په ما باندې خرخ کړی
دی هغه ورته وویل څه ګواه؟ پدې کې
حضرت خزیمة ❼ راغلو او ګواهي یې

ورکړه چې هو دا آس تا په رسول الله ☸ باندې خرخ کړی دی فیصله د رسول الله ☸ په حق کې وشوه رسول الله د حضرت خزیمه نه پوښتنه وکوله چې ته خو پدې وخت کې نه وې تا څنګه ګواهي ورکړه ؟ هغه رضی الله عنه و فرمایل زما یقین دی چې ته دروغ نه وایې نو بیا رسول الله ☸ حضرت خزیمه ❼ ته د ذو الشهادتین لقب ورکړو یعنې چې خزیمة کله یوازې هم ګواهي ورکړي دده ګواهي به د دوو کسانو په قوت وي یعني په کوم ځای کې چې د دوو کسانو ګواهي په کار وي دده به یوازې هم بس وي .



اولو العزم من الرسل چې کومو پیغمبرانو ته وایې هغوی حضرت نوح، ابراهیم، موسی، عیسي او محمد علیهم الصلاة و السلام دي .



هغه صحابي چې عتیق نوم ورکړل شوی وو هغه حضرت ابوبکر صدیق ❼ دی .



رسول الله ☸ فرمایلي دي (که د چا زړه غواړي چې داسې څوک ووینې چې په هغه کې داسې عاجزي وي لکه په عیسی ⌨ کې نو هغه دې حضرت ابو ذر ❼ ته وګوري .

عمر فاروق ❼

هغه صحابي چې د فاروق لقب ورکړل شوی وو هغه حضرت عمر فاروق دی کله چې د یو منافق او یو یهودي په مینځ کې دعوه وه رسول الله ﷺ ته دا دعوه راغله هغه مبارک ﷺ دعوه د یهودي په حق کې وکړه ځکه چې هغه په حقه وو منافق هغه فیصله ونه منله ویل یې څه د عمر خواته ورځو په هغه باندې فیصله کوو کله چې د حضرت عمر لوري ته راغلل او خپله ټوله قصه یې ورته تېره کړه او یهودي ورته دا هم وویل چې رسول الله ﷺ فیصله وکوله خو ده ونه منله ... حضرت عمر ❼ کور ته ننوت توره یې را وویسته د منافق نه یې سر پرې کړو او ورته یې وویل چې څوک د الله او دهغه د رسول فیصله نه مني زما سره دهغه دا انجام دی چې ددې خبرې په اړه رسول الله خبر شو نو هغه مبارک ﷺ ورته د فاروق لقب ورکړو ځکه حق او باطل یې ښه سره بېل کړل .



په مانځه کې اول بسم الله حضرت عمر ❼ ویلې ده .



په جومات کې د خپرولو لپاره د فرش انتظام تر ټولو نه وړاندې حضرت عمر کړی دی .



حضرت عمر 7 لمړی هغه کس دی چې د شپې د خپل رعیت د حالا تو د معلوملو لپاره ګرځېدلی دی .



په حکومت کې د دفترونو د جوړولو انتظام اول حضرت عمر 7 کړی دی .



حضرت زید بن حارثه 7 ته د حب رسول الله ﷺ لقب ورکړل شوی وو.



حضرت اسامه بن زید 7 ته د الحب بن الحب لقب ورکړل شوی وو.



حضرت حمزه بن عبد المطلب ته د اسد الله لقب ورکړل شوی وو



حضرت عمار ابن یاسر ❼ ته د الطیب المطیب لقب ورکړل شوی وو .



حضرت حسین او حضرت حسن رضی الله عنهما ته د سیدا شباب اهل الجنة لقب ورکړل شوی دی .



هغه خزیمه بن ثابت ❼ وو چې رسو ل الله ورته د ذو الشهادتین لقب ورکړی وو.



هغه حضرت خالد بن ولید ❼ ووچې د سیف الله المسلول لقب ورته ورکړل شوی وو .



هغه حضرت سفیان ابن عوف ❼ وو چې د امیر الطوائف لقب ورته ورکړل شوی وو.



هغه حضرت عمرو بن العاص ❼ ووچې د داهیة العرب لقب ورته ورکړل شوی وو.



هغه حضرت عکرمه بن ابي جهل وو چې د طرید النبي لقب ورته ورکړل شوی وو.



د الطيار او ذالجناحين لقبونه حضرت جعفر بن ابي طالب ته ورکړل شوي وو.



د ابو تراب لقب حضرت على ❼ ته ورکړل شوی وو.



دحبر الامة لقب حضرت عبد الله ابن عباس ❼ ته ورکړل شوی وو.

د حواري رسول الله لقب حضرت زبير بن العوام ته ورکړل شوی وو.



د الفياض لقب حضرت طلحة بن عبيد الله ❼ ته ورکړل شوی وو.



د شهيد الحي لقب حضرت طلحة بن عبيد الله ❼ ته ورکړل شوی وو.



هغه عمرو بن معديکرب الزبيدي ❼ وو چې د فارس العرب لقب ورکړل شوی وو.



هغه حضرت سعد بن عبيد الانصاري وو چې د القاري لقب ورکړل شوی وو او د مسجد قباء امامت ورته ورکړل شوی وو.



هغه حضرت ابو موسى الاشعري وو چې د صاحب الهجرات الثلاثه لقب ورکړل شوی وو.



هغه حضرت ابو رهم کلثوم بن الحصين الغفاري 7 وو چې د المنحور لقب ورکړل شوی وو.



حضرت عبد الله بن عباس وو چې د فراخ علم له امله ورته بحر ويل کېدل .



حضرت عبد الرحمن ابن عوف وو چې د الصادق البار لقب ورکړل شوی وو.



حضرت جعفر ابن ابي طالب 7 وو چې رسول الله ☸ ورته ابو المساکين ويل .



حضرت خبيب بن عدي ❼ وو چې الشهيد المصلوب لقب ورکړل شوی وو.



حضرت عبد الله بن عباس ❼ وو چې ترجمان القران ورته ویل کیږي .



حضرت اسماء بن ابي بكر رضى الله عنها وه چې ذات النطاقين ورته ویل کیږي .



هغه صحابي حضرت ابوبكر صديق ❼ وو چې د تبوک په غزا کې رسول الله ☸ ورته خپله لويه جنډه ورکړې وه .



هغه صحابي حضرت عمر ❼ دی چې شيطانان ورڅخه تښتېدل.



هغه صحابي حضرت عثمان ❼ دی چې ملائکې ترینه حیاء کوي .



هغه صحابي چې دعا يې قبليده حضرت سعد بن ابي وقاص ❼ وو.



هغه صحابي حضرت عمرو بن العاص وو چې رسول الله ☸ يې په اړه فرمايلي وو چې نن شپه به يو حکيم انسان راځي .



هغه حضرت ابو ذر غفاري ❼ وو چې رسول الله ☸ يې په اړه فرمايلي وو چې ته به يوازې ګرځې او ته به يوازې وفات کيږي او يوازې به را پورته کېږې .



هغه صحابي حضرت عبيدة بن الجراح وو ❼ وو چې رسول الله ☸ ورته امين هذه الامة ويلي وو .



هغه صحابي چې رسول الله ☸ يې په جنت کې د پښو اواز اوريدلى وو هغه حضرت بلال بن رباح ❼ وو.



هغه صحابي حضرت عثمان ❼ دى چې ورته ذو النورين ويل کيږي ځکه د رسول الله ☸

د دوو بیبیانو سره یې یوه په بله پسې نکاح کړې وه .

د جُمعې د مانځه لپاره دوهم اذان

د جُمعې د ورځې لپاره یو اذان وو د دوهم اذان اهتمام ددې امله حضرت عثمان ❼ وکولو چې اوس خلک د رسول الله ☸ د زمانې نه زیات شوي او سست شوي دي نو ددې لپاره چې مانځه ته تول راشي د جُمعې د مانځه لپاره به دوهم اذان هم کوو او په هغه وخت کې د موجوده صحابه وو په اتفاق سره وشو. (صحیح البخاري)



هغه بختوره صحابیه حضرت فاطمه بنت اسد رضی الله عنها وه چې رسول الله ☸ ورته د خپل قمیص نه کفن جوړ کړی وو.



هغه صحابي سعد بن ابي وقاص وو چې رسو الله ☸ ورته ویل زما مور او پلار تا نه زار شه .



هغه مبارکه صحابیه چې رسول الله ﷺ یې په اړه ویلي وو چې دا زما د مور نه وروسته زما مور ده هغه ام ایمن برکة وه .



د رسول الله ﷺ د راز شریک صحابي حضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه وو.



د رسول الله ﷺ خطیب حضرت ثابت بن قیس رضی الله عنه وو .



حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وو چې رسول الله ورته د اوږده عمر او فراخې روزي دعا کړې وه .



حضرت حسن بن علی رضی الله عنه وو چې رسول الله ﷺ ورته دعا کړې وه چې ای الله زه ورسره مینه کوم ته هم ورسره مینه وکوه .



هغه صحابي حضرت عمار بن یاسر وو چې رسول الله ورته ویلي وو چې په دنیا کې به ستا آخري کوټ له شودو څخه وي .



حضرت اسامه بن زید هغه صحابي وو چې په کم عمرۍ کې يې د مسلمانانو د یو لوی لښکر مشري په غاړه درلوده .



اسید بن حضیر ❼ هغه صحابي ووچې ده تلاوت کولو او ملائکو غوږ ورته نیولی وو.

اندلس ته رسېدونکی لمړی مسلمان امیر

حضرت نصیر ابن وائل رحمة الله علیه اول هغه عربي مسلمان قائد دی چې اندلس ته رسېدلی دی دا مبارک تابعي دی په تقوی او دیانت کې بې مثاله وو پلار یې هم د اسلامي لښکر قائد وو او دی هم د شپې مېړاني مالک قائد وو ابن خلکان دده په اړه لیکلي چې د ښه شجاعت مالک وو او معزز او درونند قائد وو.

دی مبارک رحمه الله په ۱۹ هجري کې پیدا شوی وو او په ۹۷ هجري کې یې له دنیا نه سترګې پټې کړې وې د حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم په خلافت کې د شام والي وو

اول مسلمان پیدا کېدونکی ماشوم

د حضرت عمر رضی الله عنه زوی حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه هغه مبارک صحابي دی چې تر هجرت وړاندې اول مسلمان پیدا شوی دی او مور یې زینب بنت مظعون وه د رسول الله ﷺ د نبوت په دوهم کال پیدا شوی دی او دا لمړی مسلمان ماشوم وو چې پیدا شو د خپل

پلار سره یې مدینې منورې ته په لس کلنۍ کې هجرت وکړو او په مدینه منوره کې یې د خندق په غزوه کې د پنځلس کلنۍ په عمر کې شرکت وکړو په بیعة الرضوان کې شامل وو ، عراق ته د جنګ لپاره تللی وو ، په غزوه قادسیه کې وو او دی مبارک ❼ فرمایي چې د بدر د غزا په وخت کې زه رسول الله ☸ ته راغلم پدې وخت کې زه د دیارلسو کلونو وم رسول الله ☸ زه د تلو نه منع کړم ، د احد په غزا کې ورته راغلم زه د څوارلسو کلونو وم بیا یې د تلو نه منع کړم بیا د خندق په وخت کې ورته راغلم زه د پنځلسو کلونو وم اجازه یې راکړه چې ورسره لاړ شم .

حضرت عبد الله بن عمر ❼ د رسول الله ☸ په متابعت کې ډېر زیات مشهور وو حتی چې په کوم طرف به یې سفر کولو چې په کوم ځای کې به رسول الله ☸ دمه کړې وه نو ده به هم هلته دمه کوله او دی مبارک ❼ د هجرت په ۷٤ کال باندې وفات شو .

د اسلام نه لمړی مرتد

الاسود العنسي اول هغه کس دی چې د اسلام نه ګرځېدلی دی (مرتد شوی دی) دا په یمن کې وو چې کله خبر شو چې رسول

الله ☸ بيمار شوی دی او دا د رسول الله ☸ هغه بيماري نه وه چې د کوم نه رسول الله صلی الله عليه وسم وفات شو دا هغه بيماري وه چې رسول الله ☸ وربانديې بيمار شوی وو چې کله رسول الله ☸ له حجة الوداع نه را وګرځېدو نو چې دديې بيماری خبر ده ته ورسېدو ده د خپل ځان لپاره د پيغمبري دعوه وکوله او دديې ځان ښکاره کولو نه صرف دری او په يو قول څلور مياشتې وروسته ووژل شو .

د اموي خلافت لمړی خليفه

حضرت معاويه ❼ د اموي خلافت اول خليفه وو دا د حضرت ابو سفيان بن حرب ❼ زوی وو کنية يې ابو عبدالرحمن وه په شام بانديې والي وو او په اردن بانديې په ۲۱ هجري کال بانديې والي شو د حضرت عمر ❼ په دور کې او د حضرت عثمان ❼ د شهادت نه وروسته چې حضرت علی ❼ خليفه شو د حضرت معاويه ❼ او د حضرت علی ❼ په مينځ کې تريخ والی را پيدا شو چې حضرت علی ❼ شهيد کړل شو نو واک حضرت حسن ❼ ته پاتې شو د هغه سره په خاص تعهد سره حضرت حسن ❼ خلافت حضرت معاويه ❼ ته پرېښودو حضرت معاويه ❼ اموي خلافت جوړ کړو او دمشق

يې ددې خلافت مرکز کړو او د خپل مرګ نه وړاندې يې د خپل زوی يزيد لپاره دخلکو نه بيعت واخستو او خپله په ٦٠ هجري کال کې د رجب په مياشت کې وفات شو او پر ځای باندې يې زوی خليفه مقرر شو او د حضرت معاويه رضی الله تعالی تړون د قريشو د لويې قبيلې سره دی چې سر يې امية ته رسېږي ددې وجې نه دده د ټولې اولادې خلافت ته اموي خلافت ويل کيږي .

د اموي خلافت مرکز دمشق وو بيا وروسته اندلس ته نقل کړل شو او دا د اموي خلافت د دورې يو څه مهمې پيښې .

د حضرت معاويه ❼ خلافت

د خلافت اموي جوړول او دمشق يې مرکز کول.

د اسلامي ملکونو سره يو کول.

د صفين واقعه په ٣٩ هجري کې .

د سيلايوم جګړه په ٦٧٧ ميلادي کې .

د يزيد خلافت د ٦٨٠ هجري نه تر ٦٨٣ پورې .

د دولت اموي فراخول.

د کربلا واقعه په ٦١ هجري کې.

معرکة الحرة په ٦٣ هجري کې .

د معاويه بن يزيد خلافت د ٦٨٣ ميلادي نه تر ٦٨٤ پورې .

د مروان بن الحکم خلافت د ٦٨٤ ميلادي نه تر ٦٨٥ پورې .

د عبد الملک بن مروان خلافت د ٦٨٥ نه تر ٧٠٥ ميلادي پورې .

په فتوحاتو سره د اموي دولت ساحه نوره هم فراخه کېدل .

په مسجد اقصى باندې قبة الصخره جوړول .

په قران کريم کې نقطې لګېدل .

د اموي فتوحاتو لړی تر چين پورې رسېدل .

د محمد بن قاسم الثقفي په لاس د هند فتحه کېدل .

اموي اسلامي د پيسو نوټونه جوړېدل چې دينار عبد الملک بن مروان يې ورته ويل .

د وليد بن عبد الملک خلافت د ٧٠٥ هجري نه تر ٧١٠ هجري پورې .

د بخارا او سمرقند فتوحات .

د اندلس فتح او د امویانو اروپا ته رسېدل .

په دمشق کې لوی تاریخي جومات الجامع الاموي جوړېدل .

د مینځنۍ آسیا د ملکونو فتوحات .

د سلیمان بن عبد الملک خلافت له ۷۱۵ نه تر ۷۱۷ میلادي پورې .

د عمر ابن عبد العزیز خلافت له ۷۱۷ نه تر ۷۲۰ میلادي پورې .

د یزید بن عبد الملک خلافت له ۷۲۰ نه تر ۷۲٤ میلادي پورې ده ته دوهم یزید وايي .

هشام بن عبد الملک له ۷۲٤ نه تر ۷٤۳ میلادي پورې .

ولید بن یزید له ۷٤۳ نه تر ۷٤٤ پورې .

یزید بن ولید په ۷٤٤ میلادي کې خلیفه شو او د شپږو میاشتو په شاوخوا کې یې خلافت وکړو بیا ووژل شو ده ته دریم یزید وايي .

ابراهیم بن الولید هم په ۷٤٤ میلادي کې خلیفه شو او صرف ۷۵ ورځې یې په خلافت کې تیرې کړې بیا ترې لرې کړل شو .

مروان بن محمد له ۷٤٤ نه تر ۷۵۰ میلادي پورې .

د اموي خلافت مرکز اندلس ته نقل کېدل .

هلته بیا ۱۸ کسان نور خلفاء تېر شول آخري یې هشام المعتمد علی الله وو .

د عباسي خلافت لمړی خلیفه

د عباسي خلافت اول خلیفه ابي العباس عبد الله السفاح وو دا عبدالله بن محمد بن علي وو د رسول الله ﷺ سره یې د نسب سلسله په عبد المطلب بن هاشم کې یو ځای کیږي دا د امویانو په دور کې په حمیمیة کې (په اردن کې یو کلی دی) پیدا شوی وو پلار یې د ښې تقوی خاوند او پرهیزګار سړی وو په سجاد (ډېرې سجدې کونکی) باندې ئې شهرت درلود او ده په سفاح (وینې تویونکي) سره شهرت درلود او په عربو بادشاهانو کې د ظلم په دنیا کې خپل ځانګړی شهرت لري او د سفاح لقب هغه وخت ورته ورکړل شو چې کله یې په زور سره خلافت د اموي کورنۍ څخه خپلې کورنۍ ته راواړولو او په امویانو کې یې دومره قتلونه وکړل چې په پاتې خلکو کې صرف ښځینه او ماشومان یې پرېښودل او یا هغه خلک ترې ژوندي پاتې شول چې ترې نه اندلس

ته وتښتېدل دا اول هغه کس دی چې په اسلامي حکومت کې یې د وزارت په نوم باندې د یوې اداري جوړونه کړېده او د مختلفو کارونو لپاره یې مختلف وزارتونه تشکیل کړل او ددېنه وړاندې به د امویانو په دور کې د هر کار لپاره په هغه فن کې ماهرین را غوښتل کېدل او مشوره به ورسره کېدله او دده په وخت کې د وزارت په نوم سره اداره ورته جوړه کړل شوه او په هر وزارت کې یې دهغه چارو ماهرین مقرر کړل په علم فصاحت او ادب کې یې شهرت درلودلو د ښه علم خاوند وو او ښه ادیب وو په ۱۰٤ هجري کال کې پیدا شوی وو او په ځوانی کې په جدري بیماري باندې آخته شو او په ۱۳٦ هجري کې مړ شو دده په تاریخ باندې مختلف کتابونه لیکل شوي دي یو یې مشهور کتاب اخبار السفاح دی مدائني لیکلی دی او بل اخبار ابي العباس دی خزاز لیکل دی .



د زمزم د ابو نه اول څښاک حضرت اسمعیل ⌨ کړی دی .



اول روژه حضرت آدم نيولې ده او په هره مياشت کې به يې درى روژې نيولې .



د قيامت په لويو نښو کې لمړى نښه د لمر له مغرب لوري نه را ختل دي .

په اسلام کې لمړی مشهوره توره

په اسلام کې اول توره د حضرت زبير بن عوام ❼ مشهوره شوېده حضرت زبير بن عوام ❼ چې کله په اسلام مشرف شو پدې وخت کې دده مبارک عمر ۱۵ کاله وو ښه ځوان وو تکړه جنګيالی وو کله چې يو وخت په مکه کې د اسلام په لمړيو ورځو کې په مکه کې اوازه خپره شوه چې رسول الله ☸ قتل کړل شو ده خپله توره را وويسته او د مکې په کوڅو کې ګرځېدو چې رسول الله ☸ په مخه ورغلو هغه ته يې وويل چې داسې اوازه خپره شوېده هغه ورته دعا وکوله او دده تورې ته يې هم د خير دعا وکوله .

د حضرت خبيب بن عدي شهادت

حضرت خبيب بن عدي ❼ اول هغه صحابي دی چې د مرګ نه وړاندې يې د دوه رکعتونو مونځ کولو وخت غوښتی دی حضرت خبيب ❼ د لوړې مرتبې صحابي وو په ډېرو جنګونو کې ئې شرکت کړی دی او ډېر مشرکين يې وژلي وو او ټولو مشرکينو د خپل کلک دښمن په صفت پېژندلو يو وخت

رسول الله ﷺ ته یوه ډله خلک راغلل چې د هذیل د قبیلې وو او دا قبیله د مدینې او مکې مکرمې په مینځ کې اوسېدله دې کسانو د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې مونږ ته څه کسان راکړه چې مونږ ته اسلام او قران را وښیي رسول الله ﷺ شپږ صحابه ورسره ملګري کړل په هغو کې حضرت عاصم بن ثابت، عبد الله بن طارق، زید بن الدثني ، او خبیب بن عدي رضی الله تعالی عنهم وو دا کسان چې کله روان شول په لاره کې د مشرکانو یوې ډلې وربانديې حمله وکوله په دوی پسې چې د هذیل قبیلې نه کوم کسان راغلي وو هغوی ورسره خیانت وکولو او ددوی لپاره یې جنګ ونه کولو صرف همدا صحابه رضی الله تعالی عنهم د جنګ لپاره پاتې شول دوې خپل کم عدد ته ونه کتل او په پوره مېړانه سره وجنګېدل په دوی کې درې کسان شهیدان شول چې یو یکې حضرت عاصم بن ثابت ❼ وو پورتني نومول شوي درې کسان ژوندي پاتې شول مشرکانو ورسره وعده وکوله چې که دوی تسلیم شي نو دوی ته به امن ورکوي او دوی ته به څه نه وایي خو چې کله دوی تسلیم شول مشرکانو ورسره خیانت وکولو او دوی یې ونیول بندیان یې کړل او ویې تړل او تړلي یې مکې ته را روان کړل دا درې کسان خبیب،

زید، او عبد الله وو ، په لاره کې عبد الله خپل لاسونه خلاص کړل چې تورې ته یې لاس کولو مشرکانو ولید پرې راتول شول او په کانو یې وویشتو ترڅو شهید شو او خبیب او زید یې مکې ته بندیان را ورسول په مکه کې چې یو مشرک وو د هغه عزیزان په احد کې مړه شوي وو زید یې په هغه باندې ددې لپاره خرڅ کړو چې هغه به یې د خپلو عزیزانو د بدل اخستلو په موخه مړ کړي او همدارنګه خبیب ❼ یې په بل مشرک باندې خرڅ کړو مشرکانو حضرت خبیب ❼ته وویل چې دوی یې مړکول غواړي خو هغه نه وډار شو او نه یې رنګ بدل شو بلکه هماغه شان یې خپل تلاوت او د الله ﷻ عبادت ته دوام ورکړو دی یې په بند کې وساتلو او دوی یې د مړه کولو لپاره تیاری شروع کړو چې کله یې د مړه کولو لپاره را وویستلو او چې په دار یې خېژولو نو ده وویل چې ماته اجازه راکړئ چې دوه رکعته مونځ وکوم دوی ورته اجازه ورکړه چې کله یې دوه رکعته مونځ وکولو نو خلکو ته یې مخ را واړولو او ویې ویل که زه په دې نه ډارېدی چې تاسې به فکر وکوئ چې ما مونځ د مرګ له ویرې نه اوږد کړو نو ما به دا خپل مونځ اوږد کړی وو بیا یې چې په دار و خېژولو نو یې ورته وویل چې که دی خپل دین پرېږدي نو خلاص

به کړل شي لکن ده وویل چې دی د دین پرېښودلو ته تیار نه دی پدې وخت کې یو مشرک ورته وویل چې ته دا غواړې چې محمد دې ستا پر ځای وي او ته دې ازاد شې؟ ده ورته وویل نه والله چې زه دا هم نه غواړم چې زما د ځان په بدل کې دې د هغه په پښه کې یو ازغی هم لاړ شي بیا یې شهید کړو او رسول الله ﷺ ته دده د شهادت علم وشو یو مسلمان یې را ولېږلو چې هغه دفن کړي هغه د شپې په تیاره کې راغلو چې د اعدام رسۍ یې ترېنه خلاصه کړه د حضرت خبیب ❼ جسم مبارک په زمکه باندې را وغورځېدو چې کله صحابي ورته نېږدې راغلو چې جسم مبارک را پورته کړي ویې کتل چې هغه ورک شوی وو ددې وجې نه ورته بلیع الارض (هغه چې زمکې تېر کړی دی) هم ویل کیږي .



چې کله انسان مړ شي اول یې خیټه بد بوی شروع کوي .



د قیامت په ورځ به د انسان په اندامونو کې په انسان باندې اول گواهي دهغه ورون او اوږه وایي .



په جنت کې به جنتيانو ته اول خوراک ماهی ورکول کيږي .



په قيامت کې به د شفاعت اوله موقع انبياوو ته ورکول کيږي بيا عالمانو او بيا شهيدانو ته .



د قيامت په ورځ چې کله خلک را پورته کيږي اول به حضرت محمد ﷺ را پورته شي .



حجاج ابن يوسف هغه کس وو چې د اول ځل لپاره يې په روپيو باندې کلمه وليکله .



حضرت عثمان رضي الله عنه اول هغه کس دی چې حبشې ته يې هجرت کړی دی پدې هجرت کې ورسره خپله کور ودانه حضرت رقية بنت رسول الله ﷺ هم ملګرې وه .



د مکې مکرمې نه اول طواف ملائکو کړی دی .

عربو ته د بتانو د عبادت لمړی ځل راتلل

عربو ته د بتانو د عبادت ګندګي اول عمر بن لحی راوړې ده دا په یو وخت کې د مکې سردار وو او د عربو د مشرانو له جملې نه دی دا شام ته لاړو هلته یې ولیدل چې خلکو بتانو ته سجدې کولې دا کار یې خوښ شو پوښتنه یې ترې وکوله چې دا تاسې څه کوئ؟ هغوی ورته وویل چې مونږ ددوی عبادت کوو بیا چې ددوی نه باران غواړو باران راته کوي او چې کمک ترې وغواړو کمک راسره کوي ده ورته وویل چې ددې نه به ماته یو را نه کړې چې زه یې له ځان سره عربو ته یوسم چې هغوی یې هم عبادت وکوي ؟ هغوی ورته یو بت ورکړو چې هبل نومیده را یې وړو په مکه کې یې کېښودو او خلکو ته یې وویل چې دده به احترام کوئ او عبادت به ورته کوئ څرنګه چې د مکې خلک د عربو اشراف وو نو ډېر وخت یې وا نه خیستو چې د عربو په ټولو قبیلو کې د بتانو خپرېدل شروع شول او په ټول حجاز کې بت پرستي خپره شوه او دا هم ویل شوي دي چې شیطان ورته راغلو او ده ته یې وویل

چې د نوح د قوم بتان په يو ځای کې په جده کې خښ دي او ده ته يې لارښونه وکوله چې هغه را وباسي او هغه يې پرې را وويستل او چې کله د حج وخت راغلو نو خلکو ته يې ورکړل چې دا له ځان سره کړئ او خپلو قومونو ته يې يوسئ بيا له هغه وخت نه د اسلام تر ښکاره کېدلو پورې خلک پدې ګمراهی آخته وو رسول الله فرمايي چې ما په دوزخ کې عمر بن لحی وليدو چې په ځان پسې يې خپلې کُلمې را کش کولې .



په عالم کې اول ګناه د کبر شوېده او هغه ابليس کړېده چې حضرت آدم ته يې له سجدې کولو نه انکار وکړو .



د اسلامي تاريخ د ليکنې اول بنياد عبد الله بن رافع ايښی دی .



د قران کريم د احکامو په اړه لمړی تصنيف حضرت امام شافعي رحمه الله کړی دی .



اول هغه مسلمان چې په بحر الروم باندې پورې وتلی دی هغه حضرت معاویه بن ابي سفیان ❼ دی .



په کوفه باندې د مسلمانانو لمړی قاضی جبیر بن القشعم وو .



په بصره باندې د مسلمانانو لمړی قاضی ابو مریم الحنفي وو .



په مصر کې د مسلمانانو لمړی قاضی حضرت قیس بن ابي العاص وو .



په پل صراط باندې به اول حضرت محمد ☸ تیریږي .



په منبر باندې اوله خطبه حضرت ابراهیم ⌨ ویلې ده .



په توره باندې هم جنگ د لمړي ځل لپاره حضرت ابراهیم ⌨ کړېده .



رسول الله ﷺ چې کله مدینې منورې ته ورسېدو اول يې چې خلکو ته نصیحت کړی دی هغه يې دا حدیث ورته وویل چې خپلولي ساتئ، چې کله خلک ویده وي تاسې مونځونه کوئ، تاسې به په امن سره جنت ته ننوزئ .



د بدر په جنګ کې د مشرکینو له لوري نه اول چې قتل کړل شو هغه اسود بن عبد الاسد المخزومي وي او قتل کونکی يې د رسول الله ﷺ تره حضرت حمزه بن عبد المطلب وو.



په اسلام کې اول طبیب حارث بن کلدة الثقفي دی دا د فارس علاقې ته تللی وو هلته يې طب زده کړی وو او پوره مهارت يې حاصل کړی وو او هلته يې تجربه هم پیدا کړی وه د رسول الله ﷺ نه يې د معاویه تر زمانې پورې د خلکو علاج کولو د حضرت سعد بن ابي وقاص ؓ نه روایت دی چې زه په مکه کې بیمار شوم او رسول الله ﷺ مې پوښتنې ته راغلو بیا يې چاته وویل چې حارث ورته را وغواړئ چې علاج يې وکوي .



د آخرت د منزلو نه اوله منزله قبر دی .



د قیامت په ورځ به اول حضرت آدم ⌨ را غوښتل کیږي .



په عربي ژبه باندې اول خبري حضرت اسمعیل ⌨ کړي دي .



اول هغه چریکي جنګیالي چې رسول الله ☸ لېږلي وو مشري یې حضرت حمزه ❼ کوله .



اول هغه کس چې په یوه رکعت کې یې مکمل قران ختم کړی دی حضرت عثمان ❼ دی .



د رسول الله ☸ په اولادونو کې اول پیدا شوی دی هغه قاسم دی د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها ځخه .



اول هغه کس چې مکه مکرمه یې په جامه کې پټه کړېده هغه اسعد الحمیري رحمه الله دی او دا تبع تابعي دي .



د حضرت آدم ⌨ په اولادونو کې اول پیدا شوی قابیل دی .



چې کله د آدم ⌨ جسم مبارک پوره شو اول یې ساه په سر کې واچوله شوه .



حضرت تمیم بن اوس دی چې د لمړي ځل لپاره یې په جومات کې چراغ لګولی دی .

د علم النحو د قواعدو شروع تر ټولو وړاندې ابو الاسود الدوئلي کړېده او دا غوښتنه ترې حضرت علي ❼ کړې وه .



د حضرت خالد بن ولید تر اسلام وروسته اولنی جګړه چې ده پکې شرکت وکولو هغه غزوه موته وه .



لمړی شفاخانه د ولید بن عبد الملک په زمانه کې جوړه کړل شوه .

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

ګرانو او خوږو مسلمانانو ورونو ته د اسلامي تاريخ د مهمو پېښو د ور په زړه کولو په موخه دا سلسله د اسلامي خدمت د جذبي لرونکو ورونو په مصرف او زيار سره روانه کړل شوېده ترڅو د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد ژوندي وساتي اميد دی چې د کتونکو د توجه وړ به وګرځي ستاسې په لاس کې کتاب ددې لړی لمړی کړی ده د دوهمې لپاره يې ستاسې انتظار غواړم چې په لږ وخت کې به ستاسې تر لاسونو در ورسيږي .

ستاسې ددعا او ملګرتيا په هيله

ډاکټر کفايت الله وردګ